

ناول
مسلمان
داد محمد ناوک
ناول
مسلمان
داد محمد ناوک
د لیکوال چاپ شويِ کتابونه
• اروا څه ده!
• مکتبي - ناول
• مېخونه - لنډې کیسې
• د لنډې کیسې کرکټر
• په قرآن کې ارواپوهنه - ژباړه
• یو لمر څلور ستورې - ژباړه
• د مابام ستوري - تذکره، ګډ کار
Designed by: Sadiqullah Sadiq
داد محمد ناوک

# مسلمان

ناول

دادمحمد ناوک

د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: مسلمان-ناول
لیکوال: دادمحمد ناوک
اړیکشمېره: ۰۷۹۹۱۰۴۴۹۲
برېښنا لیک: dadnawak@gmail.com
ډیزاین: صادق الله صادق
چاپ کال: ۱۳۹۴ ل
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ چارې: ګودر کتاب خپرنځی

د چاپ ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي.



مسافري دې اسانه شه!

له ګران ملګري بادشاه خان نيازي نه نړۍ مننه، چې د عربو په سره ګرمۍ کې ګټلې پیسې يې د دې کتاب پر چاپ ورکړې!

ناوک

ډالۍ

محمد عمر، یوسف، طارق او د دوی ادې ته!

## ما ویل...

دا ناول مې د کوچني اطاق د اوږدې مسافرۍ محصول دی، له عمره لرې وم، له ادې یې لرې وم او له ادې مې لرې وم؛ برخه-برخه کار مې کاوه او کله-کله به مې په فیسبوک کې پخپله پاڼه «قلم» کې هم د (عسکر) په نوم خپراوه، خو چې ناول بشپړ شو، بیا دا نوم راته مناسب ښکاره نه شو، نوم مې یې (مسلمان) کړ.

په مسلمان کې تاسې روان وضعیت لولئ، زموږ ټولنه په جګړه کې ګیر ده، ځینو ته دا جګړه د پردیو لاسونو ښکاري، ځوک یې سپېڅلی جهاد ګڼي او ځوک یې بیا پر اقتصادي ګټو د خیټې اچولو لپاره دام؛ دلته به تاسې د همدې جګړې تر تاثیر لاندې ولس، په جګړه کې ښکېل دواړه لوري ولولئ، خو دا خبره مو باید په ذهن کې وي چې په کیسه کې را اخیستل شوي کرکټرونه له ولس او د جګړې له دواړو غاړو څخه نمونه یې را اخیستل شوي، ښایي ټولنه کې او د جګړې دواړو لوریو کې د دې را اخیستل شویو کرکټرونو پر خلاف هم موجود وي، خو حالات زموږ تر مخ دي او قضاوت کولی شو.

ښایي ناول کې ستاسې د فکر برابر پېښې تنظیم شوې وي او د ناول په پای کې یو ډول ډاډ احساس کړئ او خوند در کړي مګر دا هم

ممکنه ده، چې ستاسې د نظر بشپړ خلاف تنظیم شوې پېښې ووینئ و انګېرئ چې رسنۍ خو بل څه وايي مګر دې ناول کې خو نور څه روان دي؛ نو د یو ښه لوستونکي په توګه باید د خپل نظر موافق او مخالف اړخونه دواړه مطالعه شي، د حق د موندنې لپاره هم باید سړی هغه لوری هم مطالعه کړي چې د حق دعوه کوي او هغه هم مطالعه کړي چې دا دعوه ورسره نه مني. دلته هم ښايي تاسې د ناول په پای کې یوې پرېکړې ته ورسېږئ، که مو له ناوله خوند واخیست زما لپاره به ویاړ وي او که مو ځان ورسره نا ارامه احساس کړ، وبښئ!

په پای کې له خپل ګران ملګري بادشاه خان نیازي نه نړۍ مننه او کور یې ودان چې د عربو په سره ګرمۍ کې ګټلې پیسې یې د دې کتاب پر چاپ ور کړې.

الله مو مل

ناوک-۰۷۹۹۱۰۴۴۹۲

کابل-میرویس میدان

ژیړینور

د مازیګر لمانځه ته لاوخت و، چې د جومات د سپیکر کښنا ته دوارو غوږونه څک کړل: «اعلان، اعلان، اعلان، له جنګ جګړو څخه راغلیو ټولو افغانانو وروڼو ته په درناوي خبر ورکول کېږي، چې زموږ مؤسسه (د ماشومانو ساتنه) غواړي، هغه ماشومان چې عمر یې له پنځو کلونو ښکته وي، د بشر دوستۍ او له تاسو سره د همکارۍ په نیت، له تاسو نه د څو کلونو له پاره جلا وطنه کړي او په خپل مصرف یې ستاسو د هېواد لپاره په زده کړه سمبال ببرته راولېږي...»

اعلان لا روان و، ملا یارمحمد خپلې ښځې ته مخ ور واړاوه:

-ښه موقع ده!

-خو زموږ لپاره نه، عیدګل خو لا اوس ایله د دوو کلو دی.

- یو خو تا دغه د نیک ګمان چل زده نه کړ اوس یې په اعلان کې ښکته عمر کله ښوودلی، خو ویې ویل چې تر پنځو کلونو ښکته، مقصد چې تر پنځو پورته نه وي.

-خدای زده چې زموږ خوارانو به هم دومره قسمت وي!

ملا یارمحمد څادر اوږې ته کړ، ولاړ شو په خوشکه یې وویل:

ـ ولې لکه چې ستا د پلار لاس تورې پېشو ښتلی؟

ـ ته دلته ماته مه ډنګېږه! بې له هغه هم د لمانځه وخت دی، ورشه په جومات کې به یې سمه پوښتنه وکړې.

××××

د ژېړېنور د خړو کورو سیوري ښه را ړنګ و، ملا یارمحمد په بېړه د جومات ترمخ ګنې ګونې ته ځان ور ورساوه،ټو ل یې خپل جومات وال و، یو څونفره درېشې په تن له نورو ګوښه ولاړو، یوائې دوه نفره چې کتابچې یې په لاسو کې وې او څه یې لیکل د خلکوپه ګڼه ګوڼه کې پټ وو، ملا یارمحمد ګوښه خلکوته ورغی، یو پښتون ورته ښکاره شو. له سلام وروسته یې ورته وویل:

ـ دغه ماشومان تاسې غواړئ!

په ولاړو کې دنګ خو په عمر پاخه کس ځواب ورکړ:

ـ هو ملاصاحب! د زده کړې او روزنې لپاره یې غواړو.

ـ ستاسې مؤسسه په کوم ځای کې ده؟

ـ اصلي دفتر مو په امریکا کې ده، خو په هر ببوزلي هیواد کې څانګې لرو، زموږ کار همدا دی، له غریبو خلکو سره مرسته.

ـ خدای دې اجر درکړي.

سړی موسکی شو، ملا پسې اوږده کړه:

ـ زما يوائې يو زوی دی، خو هغه ايله اوس دوه کلن دی، ما ويل تاسې هغه هم درسره وړای شئ؟

ـ ولې نه، موږ تر پنځه کلنۍ پورته ماشومان نه وړو، نور نو د يوې مياشتې ماشوم هم موږ ته کوم مشکل نه دی.

ملا يارمحمد خوشاله شو، په منډه ګڼې ګونې ته ورغی، د خلکو په منځ کې د درېشې په تن ځوان چې کتابچه او قلم يې په لاس کې و په ملاصاحب سترګې ولګېدې، غاړه يې تازه کړه او په زوره يې وويل:

ـ ملا صاحب ته لاره ورکړئ! لاره ورکړئ!

ملا صاحب د خلکو په ټېل ماټېل کې ځان ور ورساوه په وارخطايي يې وويل:

ـ تاسې څه شی ليکئ؟

ځوان ځواب ورکړ:

ـ موږ د هغو ماشومانو ليست ليکو، چې زموږ مؤسسې ته به سبا ته وسپارل شي، ته خو به څوک نه لرې؟

ـ ولې نه، وليکه!

ـ نوم؟

ـ عيدمحمد

ـ د پلار نوم؟

ـ ملايارمحمد.

ـ تذکره، شناختي کارډ يا مهاجرکارډ خو به نه لرې؟

ـ دغه يوه بلا خو راسره شته.

ملا صاحب له جيبه يو شين بخون کارډ ورته راويوست، ځوان واړاوه راواړاوه، څه شی يې په کتابچه کې ترې وليکل، ببرته يې ملا صاحب ته ورکړ:

ـ واخله ملاصاحب، نور نو سبا له خيره عيدمحمد، همدلته د جومات خواته راوړه، چې سبا ته زموږ خارجي ملګري پرواز لري.

××××

د شپې په چوپه چوپتیا کې د زاړه کور په په دغه خونه کې د څراغ په تیته رڼاک پر دسترخوان ملا یارمحمد په خوشکه ښځې ته وویل:

- شل واره مې درته ویلي چې د هغه نوم نور له خولې واچوه!

ښځې یې په ژړا وویل:

- ولې کړې وه سړیه! پوره کال ووت چې دلته راغلي یو، ته خو یې یو وار پوښتنه وکړه، که خامخا د سموسې «موسسې» والا ژبړېنور ته راغلي وي!

- د خان صاحب لورې! ژبړېنور یې پاک هوارکړی، ټول خلک یا وطن ته راغلل یا هم نور کېمپو ته ولاړل.

په اسویلي یې پسې وویل:

- موږ هم بد وکړو، چې راغلو هسې راډیوګانو خطاکړو، هره ورځ درز غوبل دی، دوی دروغ لګیادي، چې کرزي وطن ګل ګلزار کړ.

- ته پربږده، په کرزي زوی وخورې، دعیدګل پوښتنه وکړه!

- وه ښځې عصاب مې مه خرابوه، هغه چې په دې دوه وېشت کاله کې را نه غی، نور لاس ترې ووینځه.

- ښه، بیا خو قاري ته ووایه چې که په مېرانشا شاوخوا کې یې پوښتنه وکړي!

- هغه نازولي ته دې ته ووایه،جهاد خوته پرې کوې، هغه په یوه ځای پیدا کېږي؟ نن دلته سبا هلته، پلار ته هم سم حال نه وایي خو هغلته مې درته ویل چې عیدمحمد خو مو له لاسه ووت، له دغه سره پام کوه!

- اوس دغه هم په ما راواچوه! خو تا به د طالبانو بیانونه ورته کول، په لوی لاس دې یې دغه خواکړه!

- هیڅ بلا یې نه خوري، خو عیدمحمد که تر اوسه هم د موسسې والا پاکستان ته راوړی وای، خامخا موږ خبرېدلو، مګر ماته خو لا هغلته شک راولو ید چې په دوه کاله کې هغو کاپرانو نه ټلیفون نه خط نه درک...

د ملا یارمحمد خبرې یوه درب غلې کړې، په منډه لوخ سره نېغ ور ووت، قاري اتل یې مخې ته سپېره - ببر ولاړو اتل لاسي ځراغ ځانته ونیو وارخطا یې وویل:

-زه یمه، بازمحمد!

ملا یارمحمد په زوره وویل:

_استغفرالله، ټک ټک دې نه شوای کولای؟ دغومره تربیه یې نه ده درکړې، که بس هسې...

خبرې یې د اتل د مور د خوښۍ ډک غږ ورپرې کړې:

-اخ بازګله زویه! تر تامې جارکړې، هله راځه دننه، هله راځه!

قاري اتل زړه نا زړه وویل:

-ادې...دوه ملګري نور راسره دي!

ملا یارمحمد وډونګېده خونې ته ننوت، قاري اتل خولې ته خبره جوړوله، مور یې وویل:

-ورشه زویه! رایې وله، خو ګوره چې سهار بیا په تیاره کې ووځئ، هسې هم خلک خبرې کوي!

ده وخندل د لویې دروازې ګړب شو.

××××

باز محمد اوس چا پخپل نوم نه پېژاند، پخپلو ملګرو کې د قاري اتل په نوم مشهور و، په ژېړېنور کې له کوره وتښتید، دوه کاله ورسته چې کورته راغی، پلار یې هم په دې ملامت کړ، چې وطن امریکایانو نیولی او دی په ژېړېنور کې مزې کوي، ده به له پلار سره

ډېر دلیلونه ویل چې ولې مبارزه نه کوي، ولې د بهرنیانو پر ضد تبلیغات نه کوي، سږ کال د دوی کورنۍ له ژېړینوره خپل کلي ته را کډه شوې وه، دوی د روسانو په ورستیو کې هلته تللي و، د ملا یارمحمد تر عیدمحمد دوه مشران زامن هم د روسانو پر وړاندې په جهاد کې شهیدان شوي و، په ۱۳۲۸ ش کې یې خپل دوه کلن زوی بهرنیانو ته د روژنې په موخه ورکړ، تر هغه کشر زوی یې په ژېړینور کې له کوره پټ شوی وی. لومړی یې پخپله ولسوالۍ کې له ملا یوسف سره د بهرنیانو پر ضد جګړه پیل کړه، د کوز کارېز درې تنه مشران د طالبانو د جاسوسۍ په لیست کې و، ځکه خو ملا یوسف قاري اتل له خپلې سیمې لرې په بله ولسوالۍ کې قاري صلاح الدین ته وسپاره، قاري اتل ډېر ټینګ شو، چې له ملا یوسفه یې زړه نه ځي خو هغه ورته ویل چې که دغه درې قومي مشران ووژني ښایي دی څوک په کلي کې وپېژني، ملا یارمحمد ته به جنجال جوړ شي،ځکه خو دی باید په بله ولسوالۍ کې د حکومت او بهرنیانو پر ضد مبارزې ته دوام ورکړي.

قاري صلاح الدین قاري اتل ته دوه نور ملګري ورکړي و، دوی به قاري صلاح الدین کله کله پخپل نوم یاد کړ، پخپلو منځو کې یې به یې هم د امر صاحب – امرصاحب په نوم یادونه کوله، د دوی شبکې نوم «خالد » و، نن همدا شبکه د قاري اتل دوی په کور کې راټوله وه، کورنۍ یې هم دې ولسوالۍ ته راکډه شوې وه، دلته څوک ډېر نه

و خبر، چې د ملا یارمحمد زوی له طالبانو سره دی، ځکه چې د دوی کلی د دولتي ځواکونو له واکه ډېر لرې و، اتل به کله کله کورته راته، پلار یې خلکو ته ویل چې زوی یې په سروبي کې مدرسه وايي.

ادې یې په شیدو کې ډوډۍ ورته وره کړه، پر سر یې سره کړې غوړې ور واچول، قاري اتل اشپز خانې ته ور ننوت، ادې یې ټوپ کړل:

- وی، ځوانیمرګ نه شې! ودې ډاره کړم، د ټولو وېښتان یو رنګ دي، ما خو ویل بل ملګری دې اشپز خانې ته راغی.

ده په زوره وخندل، وېښتان یې تر پکول لاندې کړل:

- ادې! بخیلي مه کوه، که بل شی وي هم را یې وړه، ملګري مې وږي دي.

مور یې د شیدو له ډوډۍ ډک لوښی قاري اتل ته ورنږدې کړ، په دیګدان یې چایجوش کېښود:

- وی زوی ګله! ترې جار به یې کړم، نن مو قران که هیڅ شی په اور اینښي و، پلا ر ته مې دې هم په شیدو کې ورکړه.

ویې خندل:

ـ د هغه ام لکه چې زار شوه، تاسې پې راغلئ اوس به ټوله شپه د چاپې له ډاره ټکی خوب ونه کړي.

قاري اتل د شیدو لوښی ور واخیست:

ـهسې ابا ډارېږي، په مونږ ولاکه مچ خبر وي، په پټو بتیو راغلو.

د خونې په لور روان شو، شاته یې ور غږ کړل:

ـ ادې په چای پسې راوځم، چای تیار کړه، زیاتې ویده شه!

طارق ځان سره راټول کړ، د څنګه ته ایښې لونګۍ له منځه یې خولۍ را وکیښه وښتان یې پکې ور ټول کړل:

ـ یاره قاري صاحب! چې ملا صاحب په کور کې نه وای، سخت بېغمه به مو خوړلې وه!

د قاري اتل پر ځای، بدر ځواب ورکړه:

ـ لوړه، د چا پروا نه لري، که ورې یې هسې را دسترخوان ته شه، سخت خوږ بوی یې ځي!

قاري اتل، وموسکید:

در وایې خلئ، د ابا په کیسه کې مه کېږئ، ځانونه ماړه کړئ، بیا خدایزده که په شیدو واړو!

دریو سرو وخندل، قاري اتل بې پامه نبغ ودرید:

- موبایل مې د موټر سایکل په خورجین کې هېر شو!

د دهلیز په وره کې ورته ودرید، یو څوک یې په موټر سایکل لګیا و، خونې ته یې منډه کړه، بې پامه ودرید، هسې نه ملګري یې وارخطا شي، بېرته تش لاس ور ووت، غلی – غلی د پښو په ګوتو ور نږدې شو، زړه یې و، تر مرۍ یې لاس را تاوکړي، چې مخامخ یې مور له اشپزخانې له څراغ سره راووته، اتل ټکان وخوړ، پلار یې د موټر سایکل په خورجین لګیا و، ملا یارمحمد ټکنی شو، په لاس کې نیولی موبایل یې بېرته په خورجین کې کېښود، تر سپینه خولۍ راوتلې اوږدې څڼې یې تر غوږو واړولې، د خونې خوا ته روان شو، اتل پر ځای مبخ ولاړ و، خو مور یې ور منډه کړه، ملا یارمحمد ته د خونې په وره کې ودرېده:

- زوی ونه خورې، څه دې کول؟ که د قاري پر ځای بل یو در باندې راوتلی وای، خو پوزه به دې راپرې کړې وه، د دوی په موټر سایکلو کې دې غوښتل څه شی؟

خوشکه ورغله:

- ښځې عصاب مې مه خرابوه، ولسوالي ته مې زنګ واهه، له دریو سره مې ځان خلاصاوه!

- وه دې زوی په زړه موړ شې قاري ګل...

اتل یې په خبرو کې ور ولوید:

- سوکه ادې! سوکه! شرم دی، ملګري به مې څه وایي.

پلار ته یې مخ کړ:

- خو بیا به دې ویلي وای، چې مه راځئ! جاسوسي ته څه حاجت و، دا یې موړ نیولي وژلي تا خو ولاکه د جاسوسۍ له پېغوره ځان خلاص کړی وای.

د ملار یامحمد ټنډه د څراغ په رڼا کې برېښېدله، لاس یې پرې تېر کړ، خولې یې پاکې کړې:

- زویه! ماویل چې دا نور ملګري دې پرې ونیسم، تا خو په انعام کې هم پرې را خلاصولی شم.

اتل سر وښوراوه، موبایل یې جېب ته کړ، مور ته یې مخ کړ:

- ادې! موړ ځو، چای پرېږده، لوښي به بیا له خونې در ټول کړې.

## زرمینه

شپاړلس کلنې زرمینې د پیازو وروستۍ ټوټه هم وړه کړه، ټول یې سره کړیو غوړو ته ور واچول، دېګ یې بېرته په دېګدان کېښود، د کچالو په ټوټه ـ ټوټه کولو مصروفه شوه، له ځان سره یې زمزمه کړه:

طالبه یاره، څښې دې ولې کړې اوږدې

لړ یې لنډې پرې کړه، سبا به بیا سنګر ته ځې!

مور یې د اوبو کوزه په لاس اشپز خانې ته ورننوته:

ـ وه زوی په طالب وخورې، په چیشي یې مینه یې!

زرمینې کټ ـ کټ وخندل:

ـ ادې دا خو هسې بدله ده، نو سړی خو به خامخا له مینتوبه اوازونه نه وایي!

مور یې د تناره له سره چایجوش ور پورته کړ:

ـ دغه بدلې بیا غم جوړ کړي، سبا به په ټپټپ ورسره سپره شوې یې دغه خوا به دې وي!

د دې د اندېښنې پر ځای یې په خندا ورته وویل:

ـ ادې ځواني دې هسې دېوالو ته تېره کړه، اوس په دې ګرمي کې هم اوداسه ته تودې اوبه دراخلې!

ـ دې تا غوندې لس ځوانانې مې سيالې هم نه دي، هسې دې خداى پلار ته ښادي نه ورکوي، دا حال مې يې کړ!

ـ ادې ابا ته ښېرا مه کړه، خو دې تا لپاره مسافر دى!

په تمسخر يې وويل:

ـ زما لپاره! خود زما لپاره، خپلې مزې کوي، دا يې ديارلسم کال دى، ته دې دوو – درو کالو وې، چې تللى اوس مې يې رنګ هېر دى!

چاقو يې له نيم کچالو سره په کاسه کې کېښود:

ـ ادې! دا پلار مې نو هندوستان کې څه ليدلي؟

په خندا يې پسې اوږده کړه:

ـ داسې نه وي چې بله يې کړې وي، کنه ديارلس کاله کې خو به يو وار را ښکاره شوى و.

ـ واى ټکه واچوې! زه يې په تمه دېوالو ته ناسته يم، دى به بله راته کړي، ښښتن به يې خوړل وي!

د ادې خوشکي خوند ورکړ، خو هغې نوره موقع ور نه کړه، کوزه يې له تړمو اوبو ور ډکه کړه، اوداسه ته ووته.

زرمينه په کلي کې په شوخۍ مينه وه، خو پېغلو به د طالبانو جاسوسه بلله، دې به طالبان ملايکې بللې، خپلو ملګرو ته به يې ډېر ويل چې دا يې لوی ارمان دی چې يو وار له طالب سره په موټر سايکل سپره شي، مخامخ يې وويني چې کاپران څنګه مړه کېږي. د هغې پلار په هندوستان کې معامله کوله، خپله لور او مېرمن يې پخپل ورور سپارلي و، خو زرمينې به مور ته ډېر ويل چې د تره زوی يې مخکې له کاپرانو سره کار کړی، په هيڅ شي نه دی بند، کورته دې يې نه راپرېږدي.

حاجي داود زرمينه لا له مخکې د خپل زوی مېرمن ګڼله، هغه خپل ورور سدوزي ته ويل چې زوی يې په کابل کې دوکان اخلي چې خدای وس ورکړي د هغه لور زرمينه به ور واده کړي او ټول به يو ځای کابل کې اوسي.

××××

ـ دا کلی مونږ ته مهم دی، د نورو سيمو مجاهدين هم له همدې لارې ځي، ته بايد له دې خلکو سره ډېر نرم وچلېږې!

و يې ويل:

ـ امر صاحب! خو سخت منافق خلک هم پکې شته، سړی باور نه شي پرې کولی.

ـ قاري اتله! انسان خطا لري، خو زه وایم چې دې منافقو ته هم د منافقت زمینه نه کړو مساعده، دا سړی که هر څوک و، خیر دې یې یوسي، موږ ته یې په وخت خبر راکړ.

د قاري صلاح الدین په طعیت پوی شو، خبرې یې بس کړې، طارق او بدر ته یې سترګو کې اشارې وکړې، هغوی سره وښوربېدل، طارق وار ړومبی کړ:

ـ امر صاحب! سبا باید څه وکړو؟

ـ هیڅ تاسې درې سره باید نن شپه خوندي ځای ته ورسوئ او سهار کې باید په ټاکلي ځای کې ترصد ته کېنئ، لاندې کار زموږ دی او پورته مو مسوولیت خپل.

پکې ورشریک شو:

ـ نو تاسې کلي ته ور کوزېږئ!؟

ـ هو.

ـ ما خو ویل چې موږ به له شپږو – اوو ملګرو سره د لویدیځ په خوا ور شو، تاسې به د ختیځ له خوا په لاره کې ورته کمین شئ!

ـ دا هم ښه خبره ده، خومقصد مې دا دی چې په هيڅ صورت، کتار بايد ولسوالي ته راو نه رسېږي، راځي خو د ښرنې له خوا، نو زه وايم چې لويديځ خوا ته به يو څو ملګري صرف ترصد ته کښنوو چې هغه خوا وڅاري، نور مو نو ډېر زور بايد د ختيځ خوا ته وي.

تياره ماښام يې، څادرونه ورټول کړل، دلته يې د ماښام لمنځونه کړي و، مخابره کې يې حمزه ـ حمزه غږ کړل، را غږ يې کړل:

ـ اورم قاري صاحب!

ـ ملګري راټول کړئ، موږ وخوځيدو، ځان باميانو ته ورسوئ، موږ بدخشان ته ځو!

حمزه له خپلو ملګرو سره په ترصد کې ناست و، قاري صلاح الدين په موټر سايکل پښه واړوله، وړاندې يې ميوند ورسره سپور کړ، دوی روانېدل چې حافظ هم راورسيد، هغه له حمزه دوی سره مصروف و، قاري اتل طارق او بدر حافظ ورسره سپور کړ، باميان او بدخشان يې شفري نومونه و، چې د خپلې ولسوالۍ پر کليو يې اېښي و، سهار ته کار هم مهم و، خو قاري اتل د کليوال په خبره باور نه درلود، له ځان سره وډونګيد:

ـ که رښتيا کتار راتلی، خامخا د مرکز يار حال راکاوه.

دوی په مرکز کې هم اړیکي درلودې، خو قاري اتل بیا خپل کس هم درلود.

××××

قومندان جک پخپل کمپیوټر کې د قاري اتل په تصویر ټک وکړ، بېله پاڼه راخلاصه شوه، بشپړه پېژندنه، زده کړه، عمر او نږدې ملګري یې ټول ورته راواړول، ژباړن ته یې مخ کړ:

- دا وګوره! دا رزیل هم له ننګرهار پوهنتونه فارغ دی، لوستي یې ادبیات دي او کار ته یې ګوره!

د جاوید له تبصرې پرته یې پسې اوږده کړه:

- زموږ مشران ټول غولیدلي، په تبلیغاتو یې خومره لګښت وکړ، خو هیڅ ګټه یې نه ده کړې، دوی صرف دې ته خوشاله دي، چې د څو کلیو څو سپین ږیري یې غرېزې رسنۍ تعقیبوي بس خلاص. تر اوسه موږ ونه شو کولی د هېواد په پوهنتونونو کې چې زموږ په لګښتونو چلېږي، خپل فکر خپور کړو، هسې یې امریکا کې د بریا ډنډورې ګډې کړې دي، ناکام یو، ناکام!

قومندان ګډي ته یې مخ کړ، جاوید یې خبرې وژباړلې:

ـ په عمر يې مه خطا کېږه، دا تر تاسې موږ ته ډېر مضر دی، ټول ملګري يې باسواده دي له خلکو سره اړيکو کې ډېر پياوړی دی.

قومندان ګډي، د جک په اوږه لاس ور کېښود، د کمپيوټر په پرده کې يې ستر ګې وګنډلې، ځوان سپينه لونګۍ تړلې وه، مړه ږېره يې وه، ډنګر خو سپين ښکارېده، ژباړن ته يې مخ کړ:

ـ دا هم اوس دومره شو؟ چې د ولسوالۍ له مسوول سره دی هم ټارګيټ شي؟

قومندان جک له پوهېدو وروسته وخندل:

ـ قاري اتل، له موږ نه نيمه پکتيکاپه امان کړې، زموږ د تېرې مياشتې عمليات هم ده را ناکام کړي، چاره يې پکار ده.

ـ په سترګو صيب! سبا به مو بې له هغه هم په هغه خوا نيت دی.

د دروازې تر شا خبرې شوې، ګډی پوی نه شو، خو ژباړن وپوهېد، چې د جک انډيواله له چا سره غږېږي، خو شک يې شو، چې په دهليز کې په دې نيمه شپه کې څوک و.

جک، خولې ته خبره راوسته، چې ريتا له غبرګو ګيلاسو سره کوټې ته ورننوته، مخامخ يې جک ته په ميز نيم بدن تکيه کړ:

ـ واخله ګرانه! شپه تر نیمې اوښتې، دا سپي رخصت کړه، نور صبر نه کېږي!

جک وخندل، د ریتا له شونډو یې مچکه والوزوله، ژباړن او قومندان ګډي ته یې د وتلو اشاره وکړه، ګډي په تلو کې ژباړن وچیخاوه:

ـ پلش دې هېر شو، دې کاپر لکه چې څه شی پکې وانه چول!

ژباړن، په ښښنې ویلو سره جک ته پلش ور یاد کړ، هغه وخندل، د مېز په سر یې لاس وتپاوه، پلش یې ور غورځار کړ:

ـ واخلئ! داسې شیان پکې دي، چې ټوله شپه به مو طبعیت برابر وي،بیا د دوه جې بې بدل کې، پوره څلور جې بې سوچه افغاني غواړم!

ګډي تر ژباړن وړاندې په پلش خېټه کړه، ویې خندل، په پښتو یې وویل:

ـ په سترګو صیب! هغه ماته پرېږده!

ژباړن ته یې مخ کړ:

ـ بچیه بیا مو مزې دي، که دې دا وار کمپیوټر ګرم شو، له ځمکې یې ولم!

## عسکر

عسکر سترګې خلاصې کړې، د څراغ په رڼا کې یې سترګو سم کار نه کاوه، لکه چې کلکې ور ترل شوې وي، عابد یې د لاسونو په خلاصولو بوخت شو، چې ملا نجماني پرې چیغه کړه:

ـ لاس یې ور خلاص نه کړي، کاپر ډېر بد سوکان وهي!

عابد وارخطا شو:

- خو ډوډۍ به څنګه خوري امر صاحب!

ـ له لوږې نه مري، ته یې خوله کې ورکړه، که یې خوړله، موږ یې کړه، کنه د دوی لکه د اوښ داسې ضد دی، چې یو وار یې نو کړل بیا به یې د چا پلار پرې یس نه کړي.

نور ملګري مسکي شول، کوربه وارخطا ملا نجماني ته مخ کړ:

ـ امر صاحب! اوس به یې خامخا کاپران په لټه کې وي، دلته قوه پسې رانه شي، زما که منئ، بلې خواته یې یوسئ!

ملا نجماني ورته ځیر شو:

-ولا سم دي وویل، اوس خو به دوی هم یوسف خېل پسې لټ په لټ کړي، لرې کول یې ضروري دي.

پسې اوږده یې کړه:

ـ ته صبر، له قاري صلاح الدین سره ارتباط نیسم.

××××

قومندان ګډي بې پامه ساعت ته وکتل، د جاوید کمپیوټر یې پورې واهه:

ـ د سوډر زو! درې بجې دي، پلاران به دې بیا په غوسه وي.

جاوید د کمپیوټر وتلی چارجر بېرته ور وټومبه، د کمپیوټر سکرین یې ځانته ور واړاوه:

ـ زما نه، ستا پلاران دي، له ډاره یې ولاکه د فلمونو په خوند پوی شوی یې، ستا....

د ژباړن خبرې د تلیفون زنګ ور پرې کړې، له تلیفونه یې چارجر ویوست، په سکرین کې د جک نوم ولید:

- دغه دی، زما زوی دې یاد کړ، زنګ یې راکړ.

د اوکې تکمه یې کېکاږله:

- اورم!

- ژر راوځئ!

تليفون بند شو، لپ ټاپ کمپيوټر يې مظبوط سره وروست، ګډي ته يې مخ کړ:

- دې د دووس زوی خو اومنه ليدلې، يو ساعت لاره هم نه ده، خو ژر رسېږو، اوس نيمه شپه کې څه راباندې کوي؟

ګډي خوبولي وخندل:

- تر دې خو د چوک د سر مزدوري هم ښه ده، ريتا خو مو هسې ډاګز نه بولي، په يو غږ يې دواړه لکۍ ورته ښورو!

ژباړن ودريد، د پتلون په سمولو بوخت و، چې جک ور په لغته ور خلاص کړ، له غوسې يې ناړې بادېدلې، زيرپيراني يې لنده ښکارېده، پر لپسې يې سرې سترګې پر قومندان ګډي را ويستلې.

ژباړن يې د خبرو منځ کې د خبرو ژباړه شروع کړه:

- بېګانی پلان بدل شو، جان حال راکړی، چې يوسف خېل کې ډلګۍ مشر طالبانو ژوندی نيولی، په هغه خوا حرکت دی، ببړه کوه!

××××

شمېره يې څو ځلې ډايله کړه، تليفون همدا ورته ويل، کومه شمېره چې تاسې ډايله کړې، اوس ګل ده، يا هم له ساحې د باندې ده، مهرباني وکړئ، بيا هڅه وکړئ! تليفون يې سر ته کېښود، په بړستن کې ننووت، طارق د خونې ور وټکاوه:

ـ په دوولس دې وار دی، ګوره سخت خوب راځي، بيا ځان په ويدو وا نه ړوې!

بړستن يې په سر ور کش کړه:

ـ ځه ياره، بېغمه اوسه!

په خندا يې پسې اوږده کړه:

ـ که خامخا ببخې نه راوېښېدم، بيا کوربه ته ووايه، ورتا د اتل په ځای پيره وکړه، ته ويده شه!

طارق له کړکۍ تللی و، قاري اتل سر ور پټ کړ، د ورځې ستوماني يې ووته، سا يې سمه شوه، شېبه وروسته په درونډ خوب ويده و:

« د ام پې ترې غږ يې زرمينه تر دروازې راوسته، ببرته يې منډه کړه، له خونې يې تړلی دوسمال راواخيست، بام ته وختله، دی پر موټر سايکل يواځې و، د شعر غږ ورو – ورو رانږدې کېده:

وخ درپاتې يادګارو ته به مې ګورې...

بیا یې تلیفون زنګ وواهه، له جېبه یې راویوست، اوکې یې کړ:

ـ اورم قاري صاحب! په موټر سایکل یم، وروسته خبرې کوو، در نږدې یم!

اتل، د سدوزي له کور سره موټر سایکل سوکه کړ، موبایل یې جېب ته کړ، ببرته یې پښه په پایدان کېښوده، د موټر سایکل غوږ یې وپېچه، د حرکت زړه یې و، چې د دوسمال غوټه یې په ټانکۍ ولګېده، سره تړلی دوسمال لاندې ولوید، ده بام ته وکتل، د ټکري څوکه ښکاره شوه، رنګ یې والوت، شاوخوا یې وکتل، ژر یې دوسمال جېب ته کړ، د بام په ژۍ یې سترګې وګنډلې، څوک ښکاره نه شو، مسکی شو، موټر سایکل ته یې ربز ورکړ، پښه یې وښوېده، د ښۍ پښې پنډۍ یې پایدان ور خوږ کړه...»

طارق بیا د کلا شنکوف په میل وچخاوه:

ـ اتله! پورته یاره، ځان په ویدو مه اړوه!

دی سره کش شو، پښه یې ورټوله کړه:

ـ خدای دې خوار نه کړه، په پښه راوختې، له بوټو سره خونې ته راننوتی یې!

طارق وخندل:

ـ رښتيا وو ايه ويده وې، که هسې دې ځان اچولی و!

ـ داسې خوب مې ليده، که دې نه وای راويښ کړی، اوس به هم لا همالته ولاړ وم.

راکښنوست، برګ دوستمال کې يې ويښتان سره ورټول کړل، د طارق بتۍ يې سترګې ور برېښولې، خوبولي يې وويل:

ـ راکړه بتۍ! څه ويده شه! زه اودس کوم بېرته راځم، بيا خبژم بام ته!

تر بالښت لاندې يې لاس وتپاوه، وړار شو، د مو بايل غور غور يې و، په سکرين يې ـ اوکسيجن ـ ليکلی و، اوکې يې کړ:

ـ اورم امر صاحب!

ـ ملا نجماني وايي تر کلي لاندې يو ته بايد مخې ته ورشې!

ـ خيريت دی؟ بېګانی پلان؟

ـ هلته پخپله پوهېږې، طارق درسره کړه!

تليفون بند شو، ده دوستمال له سره کوز کړ، طارق ته يې وخندل:

ـ د خوبو وخت دې ولاړ، ملا نجماني دوی خدايزده څه ډيلی فتح کړی، امر صاحب وايي مخې ته ورشئ!

ـ زه هم!

ـ خود نو، زه تنها ولاړ شم؟

طارق وډونګېده:

ـ مرداره دې کړه، ولاکه مې ټکی خوب کړی وي، په موټر سایکل به در پسې ویده یم.

اتل په کړس وخندل، خولې ته یې لاس ونیو:

ـ کوربه راویښ نه شي! بس ارام وځو، هله موټر سایکل ته کش ورکړه، زه ځان تیاروم.

××××

برګډال نن په ارام سا واخیسته، خو لا یې هم ښۍ اوږې درد کاوه، د درد له څړیکي سره به یې قاري اتل ته برګ وکتل، هغه وپوهېده، برګډال ته یې وخندل، په پښتو یې ورته وویل:

ـ بچیه زموږ په کالیو کې خو سم افغان ښکارې، که دې زور نه وای وهلی، اوس به دې اوږه نه خوږېده.

عسکر سیف ته وکتل، هغه یې خبرې ورته ژباړلې، دی مسکی شو، بېرته یې سیف ته وکتل، غنګېدلي یې وویل:

ـ اوس ما کله وژنې!؟

ـ دا زموږ کار نه دی، امر صاحب پوهېږي کار يې، په موږ صرف د ډوډۍ او اوبو غږ کوه، خلاص!

د ده ببخې باور نه راته، ور ياد شول، چې افغانستان ته د راتگ په وخت کې يې قومندان رابين د دوی ډلې ته تقرير کاوه:

« هلته انسانيت مانا نه لري، تاسې د يوې انساني دندې لپاره هغه هېواد ته سفر کوئ، تاسې بايد هلته انسانيت پلی کړی، تاسې هلته د انسانيت د تطبيق استازي ياست، دا يو سپېڅلی سفر دی، زه باور لرم که اوس حضرت مسيح ژوندی وای، تاسې به يې حواريون وای، تاسې پوهېږئ! هلته د طالبانو په نوم داسې خلک دي، چې هيڅ ارزښت نه پېژني، هغوی د خلکو ناموسونه لوټي، کورونه يې نړوي، ښوونځي ورانوي، پلونه له بېخه وباسي، ښځې په حيوانانو کې گڼي، د دې خلکو په وړاندې مبارزه ستاسې ايماني وظيفه ده، تاسې بايد دا شکر وباسئ چې دې سپېڅلې جگړې ته تاسې ټاکل شوي ياست.

رابين، خريبلی سره وگراوه، د مېز له سره يې د اوبو بوتل ور پورته کړ، په غاړه يې واړاوه، نيمايي بوتل يې ډېوې ته ونيو، پسې اوږده يې کړه:

دا مو باید په یاد وي، چې د طالبانو هر ډول ملاتړی تاسې ته هیڅ خنډ نه شي جوړولی، تاسې حق لرئ چې د طالبانو تر لاس لاندې سیمه کې په لیندیو کې هم ماشومان ووژنئ، ځکه چې د هغې سیمې ښځې او نر همدا ډول فکر کوي، دوی ټول سره خپل دي، دا ستاسې مسوولیت دی چې نړۍ له تروریزمه خلاصه کړئ او امریکا باید پر ټوله نړۍ د دې سترې قربانۍ احسان وکړي، بیا هم ټینګار کوم، تاسې حق لرئ د خپل بدن د یوې وړې ګوتې د زخم غچ، د طالبانو په سیمه کې له یوې بشپړې کورنۍ واخلئ!...»

قاري اتل سیف ته وکتل، برګډال ته یې اشاره وکړه:

ـ لکه چې ویده شو!

سیف ورته وکتل:

ـ ستړی یې!

عسکر لمدې سترګې وموښلې، حیران و، طالبانو نه واهه، وژل خو لرې خبره ده، خو باور یې نه کېده، بې پامه به یې وېره په زړه ننوته، دی د طالبانو د وژنې له ډول وېرېده، چېرته، څوک او څنګه به یې وژني، سیف ته یې ژړغوني وویل:

ـ ما وبښئ!

سیف وخندل:

- ولې؟ د څه شي ښښنه غواړې؟

- موږ تاسې په انسانانو کې نه ګڼلئ!

- اوس به درته ثابته شي.

- ثابته شوه، زه له تاسې سره له یوې اوونۍ راهیسې یم، صرف یوه لغته دې ځوان وهلی وم.

اتل ته یې اشاره وکړه، هغه سیف ته وکتل:

- څه وايي؟

- ستا د وهلو کیسه کوي!

- نو ما خو ولاکه د دوی غوندي لوخ – لغړ کړی وي، خو ده زور واهه، که مې نه وای وهلی اوس به ښرنه کې ګرځېده، هغې لغتې کار وکړ.

سیف، برګهال ته د اتل خبرې وژباړلې، دی وغنګېده:

- نو زه ویده کېدای شم؟

- ویده شه! خو ګوره د تېښتې سوچ لا ونه کړې، کنه بیا به دې بله اوږه خوږېږي، دا سیمه ټوله زموږ د ملګرو لاس کې ده!

دی مسکی شو، بالښت ته یې تکیه وکړه، پسې وغځید، سیف له قاري اتل، طارق او بدر سره له خونې ووت.

برګډال د سیف اوږدې لمنې ته وکتل، چې د دروازې تر چولې پسې ور ووته، ده ته په دې جامو کې داسې روانه انګلیسي نادره ښکارېده، ور یاد شول، چې رابین ورته ویلي و: « هغوی ټول بې سواده دي، دوی زموږ له نړۍ بېخي ناخبره دي، ټول زور یې پخپل دین دی، تاسې کولی شئ ډېر یې د تبلیغاتو له لارې بې له فزیکي جګړې د ځان ملګري کړئ، هغوی کومه انګېزه نه لري، هغوی فکري یرغمل دي...»

مسکی شو:

- فکري یرغمل! فکري یرغمل خو موږ یو، چې له زرګونه کیلومتره لرې دلته راتګ ته تیار شوو!

اسویلی یې ویوست، د خونې په چت کې یې سترګې وګنډلې، دا ډول ځایونه ده په فلمونو کې لیدلي و، تر خړو بازوانو بوټي راوتلي و، شاوخوا یې سترګې وغړولې، د کور لوښې په پورته کمربند کې کتار ایښي و، د خونې په کونج کې ووړ شین څراغ او ورسره په

تاخچه کې نغښتی ټوټې ایښې وې، د ده اندېښنه شوه، ورو ور څکیده، ټوټې یې سره وتوشپلې، په منځ کې یې کتاب و، خلاص یې کړ، وپوهېده، چې قرانکریم دی، بېرته یې هماسې کېښود، له ځان سره وډونګید:

ـ دا خلک په داسې خونو کې هم، خپل دین ته ژمن دي، رابین ویل دوی انګېزه نه لري!

د طالبانو په ساده ګي خندا ورغله له ځان سره یې وویل:

ـ عجیبه مخلوق دی، دا د دوی بندي خانه ده!

بالښت ته یې تکیه وکړه، خپلې بندیخانې یې سوچ کې ورغلې:

دی له نورو ملګرو سره یو ځای د زندانیانو لیدو ته ورغی، په بلاک کې یې سندرې پیل کړي، د هر زنداني له پنجرې سره به یې سندرې ته زور ورکړ، زندانیان یو – یو په قفسونو کې په سرو دریشیو کې کړوپ ولاړ و، پښې یې له لاسونو سره زولانه وې، سرونه، ږیرې او بریتونه یې خرېیل شوي و، دی د یو زنداني قفس ته ودرید، خپل ملګري ته یې وویل:

ـ همدا دی!

ـ هو

- راځه نو لږ ساعت پرې تېر کړو، موږ باید د دوی ډېر عزتمن، بې عزته کړو!

- دا یې هغه لوی دی، دی په پاکستان کې سفیر و.

زنداني یې له پنجرې راکش کړ، د بلاک مخې ته یې په واوره کې تړلی واچاوه، ملګرو ته یې شپیلي ووهل، ټول پرې راټول شول، زنداني یې په واوره کې یې لغړ کړ، خو لا یې هم لاسونه او پښې تړلي و، دوی سندرې پیل کړې، ښځینه او نارینه و یې ګډا شروع کړه او د زنداني په شاوخوا را څرخېدل، د هغه ژامې ګړېبدلې، غږونه یې اورېدل، خو ورو – ورو غږونه خپ کېدل، دوی سندرو ته کش ورکړی و، پام یې شول، چې زنداني ضعف کړی، بېرته یې راکش کړ، پنجره کې یې بندي کړ، دا لوبه یې بس نه شوله، بل یې راویوست، د اوبو ډک حوض ته یې ورکوز کړ، له پاسه یې تېزې اوبه پرې ور خوشې کړې، د هغه په بدن پاتې ټوټې هم اوبو څېرې کړې، لغړ کونج ته ودرید او د تیزو اوبو په وړاندې یې چیغې وهلې، له نورو پنجرو د کلیمو او تکبیرونو اوازونه راتلل....

برګډال، سترګې وموښلې، را کېنوست، دی ګوانتانامو کې نه و، دی د خپلو دوښمنانو په عجیبه زندان کې و، د طالبانو چلند به یې سوچ بدل کړ، خو خپلو کړنو به بیا شکمن کړ، له ځان سره یې وویل:

- دوی باید خپل غېچ واخلي، دوی باید ما لوڅ کړي، ما په سپیو وداړي، ما ته برقي شارټونه راکړي، حق یې دی،حق یې دی!

خو چې ځان به یې په کیوبا کې کوم زنداني تصور کړ، بدن به یې وربېږد، خپل وجود ته به یې وکتل، باور یې نه کېده چې دا بدن دې د هغسې عذابونو زور ولري، زړه کې یې ور ګرځېدل:

- کاش ما طالبان پرېږدي، یا ترې وتښتم، خو نه لېونی یم او نه عیبجن، په طالبانو به زبردست کتاب لیکم، پلارجان او مورجانې ته به مې ټولې کیسې کوم، څومره رسنۍ به راپسې وي، هره یوه به یې د مرکې زارۍ کوي.

خو چې دې ته به یې پام شو، چې دی اصلاً نه پوهېږي چې چېرته دی، نو نا هیلي به یې بالښت ته تکیه وکړه.

## عملیات

حاجي داود وټوخید ، لاس یې د نه غوندي وښوراوه:

ـ نه، نه داسې نه شي کېدای، هغوی خو مو څه خوري نه، مخامخ ورته وایو!

پیروزي ور غبرګه کړه:

ـ حاجي صاحب دلته خو هر څوک دغسې، تېز – تېز غږېږي، خو چې ور مخامخ شي بیا پر یو بل خبره ور اړوي.

ـ پیروزی ماما! دغه دی ټول مشران ناست دي، موږ خو لېوني نه یو، چې هم دې دوی او هم د هغې بلې ولسوالۍ والو ته عشر ورکړو، سمه ده عشر یې حق دی، ور به یې کړو، داسې خو نه شو کولی چې د ټولې پکتیکا په طالبانو جلغوزي ووېشو.

ملا رسول خان غاړه تازه کړه:

ـ ګورئ! تونده خبره زموږ په تاوان ده، څو نفره به سره ور ټول شو، داسې نفر چې په خبره ورسره پوی شي، قاري صلاح الدین ته به حال ورکړو، چې موږ عشر ورکړی هرې ډلګۍ ته خو یې نه شو ورکولی.

دوی وړاندې هم د یوې ولسوالۍ طالبانو ته د جلغوزو عشر ورکړی و، نن د جومات ملا صاحب د قاري صلاح الدین رالېږلی لیک بیا

ورته ولوست، هغه هم په لیک کې د عشر یادونه کړې وه، او لیکلي یې و، چې د دوی کلی د دوی په تشکیلاتو کې د ده مربوط دی، ځکه خو یې باید عشر د دوی ډلګۍ ته ورکړل شي.

د کلي مشران په همدې سره راټول و، چې طالبانو ته خبره یوه کړي، د زړې کلا پیتاوي ته ټول مشران په همدې سره یوه خوله شول، خو طالبانو ته مخامخ د پلاوي په ټاکل کېدو لا خبرې روانې وي، چې سمسور هم غونډې ته ور ورسید.

هغه ځوان و، په ننګرهار کې یې ښوونه او روزنه لوستي و، اوس د حکومت او طالبانو په خوښه د دې ولسوالۍ د پوهنې مدیر ټاکل شوی و، خو د هرې میاشتې په پای کې به یې د کلي تر جرګې خپله ستونزه رارسوله، هغه حاضر نه و، چې د کلي څو مشرانو، د طالبانو څو تنو او د حکومت ځینې کسانو ته مفت معاشونه ورکړي، خو تر ده وړاندې مدیر له ټولو خواو سره سر ښورولی و، او د ځینو قومي مشرانو په ګډون یې د طالبانو او د حکومت ځینې کسانو ته هم قراردادونه ور کړي و.

نن بیا هم سمسور له همدې شکایت کاوه، زړه یې و چې نن به ټول هغه مشران په ګوته کوي چې له ښوونځي نه مفتې پیسې تر لاسه کوي، خو د مشرانو وضعې ته په کتو پوی شو، چې دوی نن پر کومه ګرمه مسئله کې ګیر دي، خو ملاصاحب په خندا پرې غږ کړل:

ـ مدیر صاحب! لکه چې بیا د میاشتې سر دی، یاره ستا هم ډېر ماغزه دي خو تېر تر دې مدیریت دا د پاکو خلکو کار نه دی!

سمسور د جرګې یو څنډې ته کېنوست، ټولو مشرانو سترګې پکې وګنډلې، ده په مسکا وویل:

ـ ملا صاحب! ولا نه کېږي، زه وایم تر ما به بدتر څوک ورته راغلي وي، دا شته مکتبونه به مو سره ګډوډ شي.

حاجي داود ورته ځیر شو:

ـ دا د میاشتې سر څه مانا؟

د سمسور پر ځای ملا رسول خان په ځای کې وښورید:

ـ هسې... هسې مدیر صاحب دې وختو کې لږ په مشکل کې وي، که څنګه مدیر صاحب؟

سمسور، حاجي داود او ملا رسول خان ته وکتل:

ـ دا دی ټول مشران ناست دي ما څه ویل غوښتل، نن خبر شوم چې د معلمانو معاشونه راغلي....

خبره یې حاجي داود ور پرې کړه:

ـ مدیر صاحب! د معلمانو په معاشونو یې زموږ څه؟ نن مشکل دا دی چې له طالبانو سره د عشر خبره یوې خواته کړو .

سمسور تلیفون غوږ ته ونیو ، له غونډې ولاړ شو ، ملا رسول خان له جېبه ساعت راویوست:

ـ ناوخته دی، د اذان وخت دی، زیاتې مازیګر دی!

پیروزي غوږونه څک کړل، په سترګو یې سیوری جوړ کړ، نېغ ودرید :

ـ لکه چې قوه ده.

مخ یې اسمان ته کړ:

ـ هلیکوپتر هم ورسره دي، لکه چې کاپران دي.

ټول نېغ ودرېدل، حاجي داود وویل:

ـ بېګا یې راډیو کې ویل چې په هغه ورک امریکایي پسې یې کوششونه شروع کړي، وایي که چا پیدا کړ، سم ډالري انعام ورکوي!

××××

د قاري اتل تلیفون وډونګید ، غوږ ته یې ونیو ، په خندا یې وویل:

- وايه، ډمه!

- خبره واوره! دوی در وتلي، دا څو ورځې دې که خبرونه تعقیب کړي وي، د غزني په ګېرو، اندړو او ټوله پکتیکا کې پسې دي، ښه به وي چې یوې خواته یې خوندي کړئ!

- زه خو یوازې ستاسې راډیو کله – کله ونیسم، چې د ښکنځلو چل ترې زده کړم!

ویې خندل:

- زموږ راډیو خو نو د دوی په منځ کې ده، خو ولا هغه د غولیدلو ورونو والا غږ خو ماته هم داسې رالګېږي، لکه خوري چې مې.

- ببګا خو تا هم ښې مستې – مستې ور وویشتې!

- نو څنګه یې کوې، نجونې ډېرې مستې سندرې غواړي، دوی هم اول وار لا راته وویل چې د دې راډیو مقصد صرف د خلکو مصروف ساتل دي، نور چې مو څه زړه غواړي خپروئ یې، مقصد ملګري دې پوی کړه، که په ګوتو ورغلم ولاکه مې ژوندی پرېږدي، ستا به بیا شمېره بنده وي.

په کرس یې وخندل:

- چې زه یم بیا نو بېغمه اوسه، رښتیا اوس دې څه ویل، له عملیاتو خو یې خبر یو.

- مهمه داده، چې د سیمې ځینې قومي مخور راغواړي که د پیسو په زور وي که په خوښه، خو زړه یې دی چې په دې عملیاتو کې له ځان سره ملګري کړي، ستاسې له کلي د حاجي داود نوم پکې دی، که تر مخ غړ پرې وکړئ، ښه به وي، ښه څه نو الله دې مل شه، د خبرونو وخت دی، زه ولاړم.

قاري اتل، ټول لیست برابر کړ، قاري صلاح الدین ته یې وسپاره تر اوسه لا نه پوهېدل چې خلک به څه ځواب ورکړي، خو پر دې یې بحث و، چې د کلي په هر مشر امریکایان باور نه شي کولی، دوی باور درلود چې په لیست کې موجودو خلکو تر دې وړاندې هم له دوی سره اړیکه درلوده، د حاجي داود لپاره د هغه زوی هم یوه وسیله بلل کېده، دوی څو ورځې وړاندې د هغه زوی له کلي وشاړه پلار ته یې ګواښ کړی و، چې زوی یې له امریکایانو سره د کار په بدل کې باید دوی ته یو موټر سایکل واخلي او دوه کاله به له هېواده وځي.

دوی باوري و، چې حاجي داود له امریکایانو سره د زوی په وسیله پېژني او هغه به هم د زوی غچ هرو مرو اخلي، قاري اتل له

امریکایانو او حکومت سره د کارکوونکو لیست مخې ته کېښود،
قاري صلاح الدین ته یې مخ کړ:

- امر صاحب! خدای دې دا پېښه په خیر تېره کړي، د دوی اصلي چاره پکار ده، دا یې ځووم وار دی چې په ضمانتونو خوشي شول، خو بیا یې ژمي کې ښرنې ته منډه اخیستې وي.

- تر دې وړاندې باید په مشرانو غاړې خلاصې کړو، چې امریکایانو ته دې سپینه خبره وکړي، چې نه د دوی سیمې ته عسکر راوړل شوی او نه یې هم په موندلو کې ورسره مرسته کولی شي.

- اوس خو عکسر امن ځای ته رسېدلی، د دوی پلار یې ولاکه پیدا کړي، خو د مشرانو اړیکي باید ورسره پرې شي.

- دوی یې پرېښودونکي نه دي، دې وختو کې د مبایل له استعمال سره کلک احتیاط پکار دی، او ډېر ګرځېدل هم باید محدود شي.

- نو مشران باید څنګه خبر کړو؟

د قاري صلاح الدین له ځواب پرته یې وویل:

- زه به یوازې لاړ شم!

- نه، ته باید لاړې شې خو ملګري درسره کړه!

ـ امر صاحب! حالات ښه نه دي، زه هم کوشش کوم چې موټر سایکل خوندي ځای ودروم، کلي ته پټ ورځم!

ـ خو پام پکار دی، دا کار پر دې نه ارزي، چې خدای مه کړه تاوان مو پکې وي، خو مشرانو ته ی‌و پیغام رسول مهم دی.

ـ هسې خو مو د بل چا په خوله حال هم لیږلی شوای، خو زه وایم یو وړوکی اخطار هم باید ورکړل شي، دې ورځو کې د دې کلي خلک په عشر کې هم خوله ښوروي.

××××

قاري اتل تر کتار وړاندې په کلي کې و، موټر سایکل یې د کلي په څنډه کې په یوه کور کې ودراوه، یوازې توپانچه ورسره وه، په څادر کې نغښتی د حاجي داود دروازې ته ودرید، د دروازې له خلاصېدو سره نېغ ور ننووت، د حاجي داود مېرمنې ژر لاره وکړه، هغه زړه وه، ټولو کلیوالو به ابې بلله، قاري دراوزه پخپله بنده کړه:

ـ ابې! تر کلي لاندې قوه را روانه ده، حاجي داود چېر دی؟

ـ زوی ګله نو څه دې راغوښتل، کاپران به درپسې راشي، در ماښام کېږي هسې ځان باسه!

ـ ځم، حاجي داود چېرې دی؟

- نشته، د زړې کلا خوا ته د کلي مشران راټول شوي و، څه يې سره ويل.

قاري اتل د کلي پر سر چورلکې ليدلې، شېبه وروسته د کلي شاوخوا ټانګونه راتا و و، په هواکې غبرګو چورلکو دورې خوړې د کلي په هره کوڅه کې دوه – دوه عسکر سره ولاړ و، دوی ټول د برګډال په لټه راوتلي و، په کلي کې شنې او خړې رينجرې ښکته پورته کېدلې، د جومات په سپيکر کې اعلان وشو، چې هيڅوک له کلي د وتلو حق نه لري، ټول کليوال دې د ښوونځي خواته راشي، د جومات په سپيکر کې د ليست له مخې د کلي د مشرانو نومونه اخيستل کېدل، اعلان کوونکي ماته ګوډه پښتو ويله، ډال، ړې او نور پښتو توري يې سم نه شوای تلفظ کولی، پرلپسې لګيا و، چې د دوی عسکر په کورونو کې تالاشي کوي که څوک په کور کې وليدل شو او له غونډې يې ځان پټ کړ بيا د شکايت حق نه لري.

قاري اتل د اعلان په اورېدلو وارخطا شو، ژر يې موبايل يې له جېبه راويوست، انټن کار نه کاوه، ابۍ ته يې وارخطا وکتل، هغې په ژړه غوني غږ وويل:

- زويه! دغسې په بام د سدوزي کره واوړه، زموږ کره کاپران په حاجي پسې رانه شي!

د سدوزي د نوم په اورېدو د اتل زړه ټکان وخوړ، منډه يې کړه دانګړ په ټيټ دېوال بلې خواته واوښت، زرمينې کوکه کړه، بدنۍ يې له لاسه ولوېده، اتل چېشت وکړ:

- مه ډارېږه، زه يم، کلی محاصره دی، ماښام په تياره کې وځم.

××××

قومندان ګډي، پيروزی پورې واهه، د ډله ناستو مشرانو په منځ کې ولويد:

- ستاسې په شړومبو له موږ سره جنګېږي، اوس چېرته دي د مور مېړونه مو؟

پيروزي لوېدلې لونګۍ ژر –ژر تر سر تاو کړه، رېږدېدلي يې وويل:

- قومندان صاحب! په خدای که پې خبر يو، موږ تر تاسې مخکې په دغه کې غړېدلو، چې عشر به نه ورکو!

حاجي داود شونډه تر غاښ لاندې کړه، غوسه يې وزغمله، پيروزي ته يې قهر راغی چې ولې لاسي د عشر ور پام کوي، قومندان ګډي سترګې برګې کړي، خو جک په اوږه لاس ورکيښود، ژباړن يې خبرې وژباړلې:

- د دوی ټولو لاسونه سره ور وتړئ، يو هم بايد له ځايه ونه ښوري، زموږ ملګري په کلي کې پلټنه کوي.

ګډي پخپلو عسکرو غږ وکړ، څو شېبې وروسته ټول مشران يو بل ته شاوې اړولې سره تړلي ناست و، جک تقرير شروع کړ، ژباړن به تر ده هم توند غږېد:

- تاسې ټول ترهګر یاست! د ترهګرو مرسته کوئ! ستاسې په کورونو کې پټېږي، ستاسې زامن له موږ سره کار ته نه پرېږدي، خو تاسې لا هم ډوډۍ ورکوئ، له موږ نه يې پټوئ، له دې لارې پرته هيڅ امکان نه لري چې برګډال دې له موږ ورک شي، هرو مرو ستاسې سیمې ته راوړل شوی، تاسې ټول پکې ور شريک یاست، موږ دوه ساعته وخت لرو، تاسې باید یا موږ ته قناعت راکړئ، چې طالبانو زموږ ډلګۍ مشر نه دی راوړی یا هم باید ومنئ چې د چا کره يې شپه کړې، چا ځای ورکړی او چا مرسته ورسره کړې، زه ...

د جک مخابرې غږ وکړ، غوږ ته يې ونيوه، په انګليسي يې څه وويل، لږ ځنډ وروسته غونډې ته خړ ټانګ راورسيد، د ملا رسول خان سترګې تړلې وې، په مشرانو کې يې کېناوه، ټانګ وخوځيد، ګډي ملا ته لغته ورکړه:

- سم کېنه! د پلار کور دې نه دی، د دووس بچيه خپل کلی له پنجابيانو نه شئ ساتلی!

ملا وډونګيد، خو غږ يې وانه وربدل شو، ګډي ګونډې پکې خښې کړې، خولې ته يې سوکان سم کړل:

ـ خوله مه ښوروه! خوله مه ښوروه! دله – دووسه!

جک ورته وخندل، ګډی يې له وهلو منع کړ، د ملا رسول خان سا سمه شوه، د خولې کونج يې تود شو، وينه يې په ږيره کې ننوته، جک خبرو ته دوام ورکړ:

ـ زه له ليسته نوم اخلم، ځينې مشران چې زموږ پکار دي، بايد له نوم اخيستو سره غږ وکړي!

جک پرلپسې نومونه اخيستل، څلور تنه يې له مشرانو بېل کړل، خو د يو درک نه و، بيا يې وويل:

ـ حاجي داود!

ژباړن، تر ده په زوره ناري کړې:

حاجي داود!

مشرانو يو بل ته سره وکتل، يو وغنګېده:

ـ نشته صيب، لکه چې نه دی راغلی!

جک، ګډي ته مخ کړ، هغه يې په کتلو پوی شو، په خپلو عسکرو يې غږ وکړ، شېبه وروسته د حاجي داود په کور راګرځېدلي و، قومندان ګډي دروازې ته بله لغته ورکړه، چې حاجي داود د کوټې په سر کې له لرې پرې غږ کړل:

ـ دروازه دې وکېښه، څه شوي خيرت دی؟

ګډي مخ ور واړاوه، د هغه بدنۍ په لاس کې وه، لستوڼي يې پورته و، اوس يې اودس کړی و، حاجي داود بدنۍ په ځمکه کېښوده، ګډي ته يې لاسونه اور اوږده کړل، خوله يې ستړې مه شې ته جوړوله، چې د ګډي کونداغ ستوني ستغ واچاوه، په نس کې يې ګونډي ور کېښودې:

ـ تا اعلان وا نه ورېد، کوڼ يې؟

د حاجي دواد مېرمنې د دروازې تر چولې کتل، د حاجي داود لونګۍ لرې پرته وه، د ښي لاس څنګل يې په وينو سور و، قومندان ګډي پړ مخې کړ، تر شا يې لاسونه ور وتړل، لوڅ سر يې روان کړ، مېرمنې يې دروازه خلاصه کړه، دروازې ته ولاړ عسکر، ببرته ټېله کړه، دروازه يې د باندې له خوا ور پسې بنده کړه، زرمينې د خپل کور تر دروازې وروستی عسکر وليد چې تېر شو، سا يې سمه شوه، اشپزخانې ته يې منډه کړه:

ـ ولاړ عسکر ولاړل!

قاري اتل څادر اوږې ته کړ:

ـ زه به هم دغسې د کلي په څنډه کې ووځم.

زرمينه ولړزيده، اتل د اشپز خانې دروازې ته ورسيد، بېرته يې د لونګۍ تر شمله ونيو، ژړغوني يې وويل:

ـ مه ځه! تياري نه وينې، په کلي خو لا کاپران را تاو دي.

قاري اتل، زرمينه اول وار دومره له نږدې ليدله، لمدو سترګو کې يې ټوله نړۍ ورته راټوله شوه، خپلې سترګې يې ښکته کړې، ورو يې وويل:

ـ ادې دې د اشپزخانې په خوا در نه را نه شي، زه به لږ په تياره کې ووځم.

بېرته يې د اشپز خانې لوګي وهلي دېوال ته تکيه وکړه، کېنوست، زرمينه رپيدله، د اشپز خانې په وره کې سونګېده، اتل ته يې غږ ونه کړ، خونې ته ننوته، ادې يې په لمانځه ولاړه وه، بدنۍ يې ور واخيسته، د اشپز خانې په وره کې يې کېښنوده:

ـ دا در واخله! سړې اوبه پکې شته، تودې له هغه تور واړه چای جوشه در واچوه اودس وکړه، لمونځ دې قضا کېږي.

××××

تياره ماښام له کلي وروستی ټانګ وخوځيد، مشران د ښوونځي له خوا ډله را روان و، پيروزی ملا رسول خان ته ور په غوږ شو:

ـ خوږ خو نه شوې؟

ملا رسول خان تشي ته لاس ونيو، مسکی شو:

ـ هسې غيرت نيولی يم، ولاکه مې تګ له وسه کېږي.

پسې اوږده يې کړه:

ـ کاپرانو، حاجي داود هم ډېر ژوبل کړ.

پيروزي ور وکتل، حاجي داود د سمسور په اوږه تکيه کړې وه، زنګېدلی روان و، ملا رسول خان له جېبه ورقه را ويسته، پيروزي ته يې مخ کړ، په تکليف يې وويل:

ـ دا به اوس د چا پلار طالبانو ته ورکړي، دوی مو ږ په بدي سره ککړوي.

د سمسور ور پام شول، غږ يې پرې وکړ:

ـ هسې يې دغسې وېشلې، د طالبانو لپاره دي، خو دومره مهمې نه دي، چې موږ دې يې خامخا ورکړو.

ـ نو موږ ته خو عسکر ويل چې دا طالبانو ته ورکړئ!

ټول ډله سره ودرېدل، سمسور ورقه د ملا رسول خان له لاسه ور واخيسته:

ـ نه دا تبليغاتي پاڼې دي:

«قاري صلاح الدين، قاري اتل، بدر، ميوند، حافظ...»

ـ ليکلي يې دي، چې هغه کاپر يې له يوسف خېلو دلته راوړی، دې ټولو خلکو له طالبانو سره کومک کړی، وايي شپه يې هم له کلي سره نږدې تېره کړې، اوس يې اخطار ليکلی چې بايد د دې طالبانو په نيولو کې مرسته وکړئ او د قاري صلاح الدين او اتل په سر يې پنځه ويشت زره ډالر ايښي، ورته ويلي يې دي چې په سمه سره مو عسکر را ته تسليم کړئ!

د پيروزي خوله سره راټوله شوه:

ـ اووو پنځويشت زره ډالر!!

ملا رسول خان وچيخاوه:

ـ لکه چې پيسو ته ته هم د ټينګې نه يې، افرين! ور يې کړه په لاس يې ورکړه! دغه اوس بې عزتي دې هېره شوه! د خپلو ښځو له څنګو يې په يو اعلان تر ښوونځي بوتلو، لغتې، ښکنځلې بدر رد، لکه چې عبرت دې وا نه خيست!

د پيروزي حوصلې ځواب ورکړ، په غوسه يې وويل:

ـ طالبان مو نو څه د پلار زامن دي، ولاکه يې لا عشر پرېيښی وي، لا يې زکات پرېيښی وي، لکه د دوی د پلار چې را شريک وي، دا په حکومت کې چې دي ټول له مجبوريته ورغلي.

حاجي داود ته يې اشاره وکړه:

ـ د ده زوی نو څه کاپر و؟ خو دوی نه پرېښود، طالبانو ته يې څه تاوان رسيدلی و؟ اوس يې ورک کړ، ولاکه يې له پلار سره اړيکه وي چې چېرته دی، خدايزده له هغې خوا به روغ راشي، مړ، جوړ به وي که چرسي که پوډري...

ملا رسول خان تشي ته لاس ونيو، په حوصله يې وويل:

ـ دا ځای د دې نه دی، درځئ مازيګر جمع خو شوه تېره، ماښام ته به جومات کې پرې غږېږو!

## جومات

قاري اتل ځان په څادر کې ونغښت، زړه يې و چې د کلي ګوښې ته د موټر سايکل خوا ته ځان ورسوي، جېب ته يې لاس کړ، تليفون يې بند و، ور ياد شول چې د چارج يې لا مازيګر اخري وه، د کلي په تنګه کوڅه کې يې ګړندي ګامونه اخيستل، چې د سپيکر کښا ودراوه، د ملا صاحب غږ يې پېژانده، خو دا لومړی ځل و چې په ماښام کې د جومات له سپيکره تقرير اوري، ملا رسول خان له حمد او صلواه وروسته د کفر او اسلام د جګړو پر تاريخ خبره وغځوله، اتل پښه نيولی شو، جومات ته ور روان شو، نغښتی په يوه کونج کې کېنوست، شاوخوا يې وڅارل، جومات ښه ډک و، ځوانان او مشران ټول د ملا صاحب تقرير ته غلي ناست و، هغه لګيا و، د بدر له غزا وروسته يې په نورو غزاوو، د اصحابو په تکليفونو او له هغوی سره د خپلو مېړمنو، ولسي خلکو په صبر او زغم وغږېد، د روم تر جګړې راورسيد، د افغانستان په تاريخ کې يې د انګريزانو او روسانو جګړې يادې کړې:

« ځينې وايي مجاهدينو روسان مات کړل خو بيا يې پخپل منځي جګړو کې د جهاد نوم بد کړ، ګورئ ورونړو! يو څوک چې ډاکټر وي او بيا ډاکټري پرېږدي معلم شي، يا شپون شي يا بل کار شروع کړي، نو خو چې هر کار کوي فاعل يې په هغه نوم يادېږي، معلم ته خو به څوک ډاکټر نه وايي او نه به يې دغه ډاکټري تر سوال لاندې راولي، مجاهدين د

جهاد په وخت مجاهدین و، تر قیامته خو به مجاهدین نه بلل کېږي، سمه ده هغه عظمت، هغه احترام یې ضرور دی، خو نور یې هغه وخت تېر شوی، هره جګړه خو به خپل جهاد نه توجیه کوي، بل دا چې د هر چا ښه ته به ښه او بد ته به بد وایو، مجاهدینو چې جهاد کاوه، ښه یې کول، پرې افرین دې وي، چې په کابل کې یې عام خلک ووژل، خپل منځ کې یې په چوکۍ سره وخوړل، بد یې وکړل...»

قاري اتل، ته یې خبرې تکراري ښکاره شوې، زړه یې و چې ووځي خو ملا صاحب د اوسنۍ جګړې موضوع ته ور ننووت:

« تر اوسه مو شف – شف کړې، لا له ډاره، لا د یوې پولې او پټې په خاطر، لا د خپلې ښځې او اولادو په خاطر، خو نن مو پخپلو سترګو خپل عزت ولید، په ټول وطن کې هره ورځ دغسې حال وي، هره ورځ مشران، د دین عالمان او حتی ښځې بې عزته کېږي، ابراهیم کارېز مو هېر شو؟ زمونږ او ستاسې مسلمانې خویندې یې په نیمه شپه په باغو کې نه وې شهیدانې کړې؟ په کندهار کې یې وړو زړو ته اور نه ور واچاوه؟ په مشخېلو کې یې د ناوې موټر په بمو کې نه کړ لولپه!

ګورئ مسلمانانو ورونو!

اسلام مورِ ته میراثي راغلی، مورِ ته له ابا ادې په اسانۍ را پاتې دی، خو دې ته مو نه دي پام چې د اسلام دوښمنانو د اسلام د له منځه وړلو لپاره څه نه دي کړي، او مسلمانانو څومره قربانۍ ورکړې...»

د ملا رسول خان تقریر زور اخیستی و، په تیاره ماښام کې په ټول کلي کې مېرمنې او پېغلې د بامو په څنډو د سپیکر غږ ته چوپې ناستې وې:

« تر څو چې یوه مور، یوه خور او یوه ښځه خپل زوی، خپل ورور، خپل مېړه ته غیرت ور نه کړي، د نن سبا نارینه ښځې شوې دي، ښځینه توب یې نن مورِ په سترګو ولید، پردي خو پرېږده، هغو چې په پښتو غړېدل داسې یې کشولو لکه پلار او مور مو چې یې ور وژلي وي، که د اسلام تاریخ وګورئ یوې مور، خور او ښځې خپله نارینه ګان قربانۍ ته تیار کړي، دوی ډاډ ورکړی، دوی غیرت پکې راوستی، دا اوس چې څوک په غرو کې د موټر سایکل په یوه توس کې شپې تېروي، ولې هغوی مور نه لري؟ خور نه لري؟ ښځې نه لري؟ لري یې، هر څوک لري، خو هغوی غیرت لري، هغوی ته دغسې د ذلالت ژوند خوند نه ورکوي چې پردي یې په نیمو شپو په ښځو کې لویدلي وي، د ښځو کالي یې سره توشپې، نارینه یې لکه ښځې لاس تړلي د خپل کور واک نه لري.

زما عزیزانو!

دا دنیا په والله فاني ده، خو څوک به د ښځې تر څنګ غځېدلي وي، پښې به رپوي سا به یې خېژي او څوک به په ټټر لګېدلي وي، د نر په مرګ به وژل شوي وي، دا ده په رښو سترګو یې ګورئ چې په دنیا کې د چا عزت وي، د چا زیارت ته خلک ورځي، د چا په نوم خلک فخر کوي، د ځینو ولا که قبرونه معلوم وي، بې جنازو خښ شول، د چا بیا په جنازو کې په زرهاو نفر وي، الله جل شانه یې دلته هم درښیي، دا کیسې په تېر جهاد کې هم وې، هلته هم اشرار و، چا د مجاهد نوم په خوله نه شوای اخیستلی، خو وخت ثابته کړه، خدای ور وښوده، چې حق څوک دي، او دا وطن رښتیا څوک ساتلی شي، کور یې ګور شو، کالي یې کفنونه شول، د دوی به هم وګورئ، چې اولادونه به یې دغسې خړ سترګي ګرځي، لکه د کمونیستانو، خو والله که یې را شل کړي، دوی له بې وسلې خلکو سره زور وهي، دوی د خلکو په کورو ور خېژي ملکي خلک وژني، زنداني کوي یې، او باید کړي یې، ځکه چې د همدې خلکو د بې غیرتۍ له وجې نن د غیرت نوم شرم ګرځېدلی، د ځان، د خپل وطن، د خپل ناموس دفاع ته دې نه پرېږدي، چې دلته اوس ټول مازیګر له خپلو کورو نا خبره له مکتب سره ټول لکه دووسان ناست و، چا غږ وکړ، چا وویل چې دا پردي عسکر دا کا پران، دا څه شی کوي چې په کلي او کورو، په بامو او کوڅو کې مو ښکته پورته کېږي؟ خو که مازې د موټر سایکل غورا شي د ټولو تندي تروش شي، په والله به الله جل شانه د دې پوښتنه در نه وکړي، د دې بې غیرتۍ پوښتنه...»

## تېښته

برګډال، د طالبانو د ولایتي مشر په شخصي کور کې اوسېده، څو ورځې يې پرې کلکه پيره لرله، خو وروسته به له هغه سره ډېر وخت یو سپين ږيرى ښکته پورته کېده، دى وروسته پوى شو چې دا د طالبانو د والي کور دى، حيران و، په فکر کې يې د خپلو ورو قومندانانو د کورونو رونق ور وګرځيد، طالبان به ببخې د پنځلسمې پېړۍ ورته ښکاره شول، بيا به يې د خپل قومندان رابين خبرې ور يادې شوې، هغه د طالبانو د ناستې پاستې، عقيدې او کلتور په اړه ورته ويلي و:

«هغوى ساده خلک دي، چې مشران يې وګورئ له عادي وګړو سره يې توپير نه کېږي، دوى باور لري چې د دوى پيغمبر او د هغه ملګرو هم ساده ژوند درلود، دوى په خوراک او پوښاک کې له خپلو ملګرو او عادي وګړو سره هيڅ فرق نه لري، ځکه خو يې مونږ ته پېژندل هم سخت دي، خو تاسې خلاص لاس لرئ، چې ملکي ووژنئ هم، د طالب ټاپه پرې ووهئ، د چا پلار يې نه شي ثابتولى چې طالب نه و.»

شاوخوا يې وکتل، خونه له ختو جوړه وه، په مخامخ دېوال یو تصوير ځړېده، اوږده وېښتان يې و، ږېره تکه توره وه، لونګۍ يې کړې وه، لاندې ترې په سره خط څه ليکلي و، د برګډال سر پرې نه خلاصېده، خو له یوه توري په سره رنګ د وينو دارې تللې وې، پوى شو، چې د طالبانو کوم مشر يا هم ملګرى دى چې اوس په نړۍ کې نشته، په خونه يې کې

سترګې واړولې را واړولې، نه یې تلویزون ولید، نه د برق تار، نه کوم بوتل، له ځان سره وغنګید:

ـ دا خلک څنګه کولی شي، چې بې شرابو ژوند وکړي، دا نو څنګه مشري شوه؟ څنګه له ژونده خوند اخلي...

برګډال به طالبانو برګی باله، اوس یو څه ارام و، نه یې اوږې درد کاوه، او نه یې هم پښې ضد کاوه، ډوډۍ یې خوړله، خو وچه ډوډۍ به یې له ځان سره د برېستنو شاته یو څه خوندي کوله.

ماسپښین و، برګډال د خوني تر وړې دربچې د باندې وکتل، سر یې د دربچې له چت سره ولګید، افغاني خولۍ یې لاندې ولوېده، سر یې وموښه، تر دربچې یې انګړ ته ور وکتل، د سپین ږیري بدنۍ په لاس کې وه، مخامخ تشناب ته ننوت، ده همدا موقع وګڼله، د برېستنو شاته یې له یوې اوونۍ راهیسې ډېره ډوډۍ ټوله کړې وه، په یوه برګ دوسمال کې یې سره راونغاړله، پرتوګ یې ویوست، اوږده لمن یې تر ګونډو ډېره ښکته وه، په خونه کې یې یو بوټ او یوه څپلۍ په پښو کړه، د خونې واړه وره ته یې لغته ورکړه، ور له لوخکه وخوت، تر چوله یې په تکلیف ووت، خولۍ یې په سر سمه کړه، منډه یې کړه، د انګړ دروازه یې خلاصه پرېښوده، له څپلې غوټې به یې پرلپسې وچه ډوډۍ په خوله منډله، د بازار په ګڼه ګوڼه کې ببغمه روان و، یو نیم ځوان به یې لوڅو لینګو ته وخندل.

سپین ږیري د خونې ور کوږ ولید ، منډه یې کړه، د انګړ په دروازه کې له یو ځوان طالب سره ټکر شو ، ربړېدېدلې یې وویل:

ـ نشته، کاپر تښتېدلی، هله!

××××

عسکر وروستی کارتن هم کېښود ، جک قوماندان ګډي ته مخ کړ، ژباړن وویل:

ـ ټول ځوارلس شول، دا باید د غزني له ګېرو د پکتیکا په کټواز، اومنه سروبي او تر ګوملې وشیندل شي!

ـ په سترګو صیب!

ـ پوهېږې! کار مو باید تر درې ساعته ډېر وخت وانه خلي، چورلکې دلته پکاربږي.

جک خپلې خونې ته روان شو، خړو بوټونو یې د قوماندانۍ د انګړ په جغلو کې کې غږ کاوه، ګډي د یو کارتن تر چولې له بنډله یو کاغذ را کش کړ، د برګډال عکس یې وپېژاند ، خو لیک یې نه شوای لوستی، ژباړن ته یې مخ کړ:

ـ دا یې اوس څه لیکلي د دووس زامنو!؟

جاوید وخندل:

- وایي که چا په ګوتو راکړ، یایې په اړه معلومات راکړل، یو میلیون ډالر یې وګټل.

ډالرو ته د ګډي خولې اوبه وکړې، کاغذ یې د جاوید له لاسه کش کړ:

- نو دا خو چې کلداري کړې، د خدای زوره روپۍ کېږي، بس ککړ ته بل دوکان هم ور ږدم، خدای به یې په ګوتو رانه ولي.

جاوید په سره سپرو شویو کارتنونو ځان تکیه کړ، سګریټ یې ولګاوه، ګډي ته یې وویل:

- رښتیا! په راډیو کې تل نارې وهې چې موږ د پنجابیانو له غلامانو سره جنګېږو او ککړ دې بیا په لاهور کې کلدارې ته درته ګټې، ستا معاش خو ستا د عشقونو نه کېږي، کور مو ټول دی چلوي، دا څه کیسه ده؟

ګډي یې له لاسه د سګریټو قطی کش کړ، مسکی شو:

- د سوډر زو نو ته نه پوهېږې! پلار مې د دې ټولې سیمې مشهور جهادي قومندان و، هغه به چې کیسې راته کولې خلقیانو کټ – مټ دغسې خبرې ورته کولې، لکه نن چې یې موږ طالبانو ته کوو...

ـ نه؛ هغه جلا خبره ده، زه وايم په راډيوګانو کې ته طالبان د پاکستان زامن بولې خو خپل ورور دې بيا د پاکستان شناختي کارډ لري، دوکان...

ـ خو درته وايم، چې دا خو هسې د راډيوګانو او ټلويزونو نخرې دي، کنه له ککړه پرته مې بل ورور هم په پاکستان کې سبق وايي، کاپره انګريزي وايي، بچيه چې يو کال يې لا ووايي تا له ترجماني لرې کوم، هغه راولم.

جاويد وخندل خبرې ته يې خوله جوړوله، چې د جک قهرجن غږ يې وار خطا کړ، نيم سګريټ يې پر ځمکه وويشت، ور منډه يې کړه.

شيبه وروسته يې ګډې ته هم ور غږ کړل، هغه له سګريټه را ويستي تنباکو وشيندل، د سګريټ نل يې غورځار کړ، توره ټوټه يې په جيب ومنډله، وډونګيد:

ـ د دووس زامنو، يو سګريټې ولاکه درنه وهلې شو.

جک په کمپيوټر کې د قاري صلاح الدين تر واک لاندې ساحه په نښه کړه، د تېرې شپې د غږيزو پيغامونو لړليک يې اړاوه را اړواه، چې ګډې ور ننووت، د جک له وضعې پوی شو، غلی يې مېز ته ودريد، جک برګ ورته وکتل، په نښه شوی غږيز کليپ ته يې ټک ورکړ:

« نو چې اوس د خپل ناموس دفاع نه شې کولی، کله به يې کوې؟ تاسې هغو غلامانو ته نه ګورئ چې د څو ډالرو لپاره يې موږ تر مکتبه کشولو،

زموږ خويندې ميندې بې عزته کوي، تاسې د خدای د رضا لپاره د خپل ناموس ساتنه...»

ګډي وار خطا ژباړن ته مخ کړ:

- دا څوک دی؟ دا څه سره وايي؟

- ملا رسول خان دی، نفر مو يې غرېز ماشين ته ټوله غونډه را ثبت کړې ده.

جک پوی شو، چوکۍ کې نېغ ودريد، په ګډي يې سترګې ور وباسلې، ژباړن پيل وکړ:

- ستا له لاسه، ټول ستا له لاسه! ته موږ ته ځان په دې نه شي را نږدې کولی چې په قومي مشرانو کې ګونډې خښې کړې، ته بايد زموږ د امر تابع وې، چې موږ د وهلو امر نه و در کړی، بد دې کول چې خلک دې وهل، ته تر اوسه زموږ دښمن نه پېژنې!

ګډی لږ شاته لاړ، خو جک تر ګرېوان ور ونيو:

- ته بايد له يوه ملا سره د خلکو تر مخ داسې چلند ونه کړې، دغه تقرير يې ټوله ولسوالي را پارولی شي، که ډېر ځان موږ ته وفادار بولې، دا ملا بايد دومره بدنام کړې چې خلک يې پخپلو د نيولو زارۍ درته وکړي، پوې شوې، ډاګ!

ګډي ربړد ېدلې وويل:

- پوی شوم صيب! ماته يې پرېږدئ، صرف يو چانس راکړئ!

جک، د مېز له سره بوتل ور پورته کړ، غوړپ يې تر ستوني تېر کړ، دوی ته يې د وتلو اشاره وکړه، ګډي زړه نا زړه وويل:

زه بايد هغه کارتنونه...

ګډي جاويد ته برګ وکتل، له پوهېدو وروسته يې ګډي ته غنګېدلي وويل:

- بايد درې ساعته کې بېرته را وګرځئ!

څو ساعته وروسته په ټوله سيمه کې د برګډال د نيولو کېدلو يا هم د ځای ځايګي د معلوماتو لپاره د جايزې ورقې وشيندل شوې، د پيسو د نوټونو په اندازه کاغذونه د خلکو کورونو او د باغونو په ونو کې هم ليدل کېدل، خو اوونۍ وروسته يې هم درک ونه لګيد، جک مسوول و چې د خپلې سيمې ورک شوی عسکر را پيدا کړي، د امريکا سفارت يې په اړه خواشيني څرګنده کړه، پټناګون حق پک و، چې تاييد يې کړي که خوله چوپه ونيسي، بالاخره د جک زغم پای ته ورسيد او د وروستيو عملياتو د تياري لپاره يې نقشې مخې ته وغوړولې، خو د ملا رسول خان خبرو يې اندېښنه زياته کړې وه، په يوه اوونۍ کې د دوی د ارتباطي کس اړيکي هم شلېدلې وې.

××××

تر ګڼو ونو لاندې يې په تياره ماښام کې تېرې ته ډډه ووهله، ستړې کېنوست، له اوږې يې د ډوډۍ غوټه را ښکته کړه، د څادر په يوه کونج يې د چپې پښې د لينګې وينې پاکې کړې، له ځان سره وډونګېد:

- اوس مې دې د وحشي زامن پيدا کوي.

شاوخوا يې وکتل، همدا تېږه ورته مناسبه ښکاره شوه، ډډه يې لا ورته برابره کړه، غوټه يې سرته کېښوده، له ځان سره يې پلان ونيو، چې همدا شپه او سبا ورځ به ټوله همدلته دې ځنګل کې تېروي، دی بايد د شپې حرکت وکړي او د ورځې چېرته ځان غلی کړي، خو نه پوهېده چېرته لاړ شي، لومړی ځل يې خپله کورنۍ ور ياد شوه، په پلار يې ګران و، خو ده ته يې خوند نه ورکاه، خو هغه ورځ يې ښغه سترګو ته ودرېده چې برګډال افغانستان ته د جګړې لپاره روان شو او پلار يې لومړی ځل له زړه وژړل، اسويلی يې ويوست، لمدې سترګې يې پاکې کړې ملا يې تېږې ته ښه برابره کړه، سترګې يې د ګڼو ونو تر پاڼو پورته په رڼو ستورو کې وګنډلې، په سوچ کې لاړ:

«مور يې په تندي ښکل کړه، د هغې د ډاډ لپاره يې وويل:

- ګوره! مورې د ستا په څېر د ډېرو ميندو د خلاصون لپاره هلته ځو، دا زمورِ ديني مسوولیت دی، ته بايد وويارې چې ستا زوی له ترهګرو سره

د مبارزې لپاره افغانستان ته ځي، هلته طالبان ماشومان وژني، ستا په څېرې خوږې میندې بورې کوي، له خلکو خوښي اخلي، ووایه زما مورجانې ستا خوښېږي چې ته خوشاله یې خو هلته یوه مور د خپل زوی مړي ته ناسته وي!

مور یې په غبږ پورې کلک ونیو:

ـ هغلته ته ککری، خورې، هلته انسانیت نشته، زه په تا ویارم زویه! خو بې تا وخت به سخت وي.

د برګډال سترګې لمدې شوې:

ـ زما خوږې مورجانې ته باید خپل زوی ته ډاډ ورکړي چې د امریکا بیرغ د افغانستان په هر کلي کې و رپوي، مورجانې! ته به ما په تلویزون کې ووینې چې د افغانستان پر مغرورو غرونو به د امریکا پاک بیرغ دروم!

پلار یې په دهلیز کې په اوږده مېز تکیه کړې وه، له دې ډارېده چې اوس به د مور له خدای پاماني وروسته برګډال له ده هم خدای پاماني اخلي، هغه په رسنیو کې د افغانستان حالات څارلي و، پوهېده چې زوی یې د څومره سخت ماموریت لپاره روان دی، خو په زړه کې یې یو ډول غرور احساساوه، هغه دا د ځان لپاره ویاړ وګاڼه چې زوی یې د نیویارک د وژل شویو غچ اخلي، هغه به خپلې مېرمنې ته هم پرلپسې د نیویارک د

سوداګریزو برجونو د نړېدو ویډیوګانې ښوودلې، خو اوس یې پخپله زړه درزیده، داسې یې انګېرل چې زوی یې نور د تل لپاره ترې ځي.

برګډال تر مور غېږه وګرځوله، په تندي یې ښکل کړه، تلیفون یې وشرنګید، د پتلون له جېبه یې موبایل راویوست، له اوکې کولو پرته یې مورته وویل:

ـ ملګري انتظار دي، ساعت وروسته پرواز دی، باید ځان ورسو!

پلار یې زنګېدلي قدمونه ورته را واخیستل، برګډال لاس ور اوږد کړ، هغه غېږ پرې وګرځوله، په سلګو شو.»

له غوږ سره کړپي یې سوچ ور خراب کړ، برګډال نېغ غورځار شو، سرته اېښې غوټه کې یې په وچه ډوډۍ کې کړپی خوت، چیششت غږ یې پرې وکړ، واړه شي منډه واخیسته، په قهر یې وویل:

ـ دا اوس څنګه وطن دی، ځنګله کې یې هم موږکان ګرځي، که خدا څه بلا وه؟

بېرته یې تېږې ته تکیه وکړه، دی نه پوهېده چې اوس چېرته دی او چېرته باید لاړ شي، لا یې هم زړه نه منل چې ده څو میاشتې له طالبانو سره تېرې کړې، کله به یې شکر ویوست، چې له هغه کوره راوتښتید، کله به د طالبانو چلند په خپله تېښته پښېمانه کړ، وېره یې په زړه ننوته، پاخه یې ومنل چې که اوس په ګوتو ورغی، هرو مرو به برقي شارتونه

ورکوي، لوخ لغړ به یې سپیو ته پرېږدي، جنسي تېري به پرې کوي او طالبان به د خپلو ټولو زندانیانو غچ ځینې اخلي، دې فکر به د ځنګل سخته شپه هم ورته اسانه کړه، زړه یې و چې سبا په ونو کې پورته وخېژي او ورځ تېره کړي، شپه به د ختیځ په لور حرکت کوي، پښه یې ګرمه شوه، د ونو د پاڼو ترمنځ د سپوږمۍ تیتي رڼا ته خپل لینګي ته ځیر شو، زخمي پښې یې بیا وینه کړې وه، له لمنې یې ټوټه وویسته، پښه یې کلکه پرې وتړله، ځان ته یې زړه بد شو، د خپل کلي ژوند یې وریاد شو، ده تر دې وړاندې چې پوځ ورته ور شي د خپل کلي «هیلي» په یوه چای پلورنځي کې یې کار کاوه، د ټکندې غرمې هغه شېبه یې سترګو ته ودرېده، چې یوې سپین بخونې مسافرې نجلۍ یې زړه یوړ، هغې د ده د نري وجود ستاینه وکړه، دی د هغې په ننداره کې ډوب شو او سور چای یې پخپل لاس ور توی شي، مسافرې نجلۍ یې په نازکوالي ښه ډېر وخندل، ده یې په خندا کې خپله راتلونکې لیده، انګېرل یې چې ورپسې خاندي نه، ورته خاندي.

هغه له فرانسې راغلې وه، د دوی د کلي ننداره یې وکړه او د برګډال د چای پلورنځي تصویرونه یې هم واخیستل، برګډال ته د کلي ژوند، پوځ کې داخلیدل، افغانستان ته تلل او بیا په پکتیکا کې پوځي ماموریت، ټول ورته یو خوب ښکارېده، خو د ځنګله ډارونکې شپې به باوري کړ، چې اوس په نامعلوم ځای کې د نامعلوم برخلیک لپاره تېرې ته پروت دی.

××××

د موټر سايکل له ښکرو يې ام پې ترې ور خلاصه کړه، منډې ته يې ځان جوړاوه، خو قاري اتل پرې غږ کړل، د ماشوم له لاسه ام پې ترې لوېده، تکمه يې ووهل شوه، د فقير محمد درویش غږ پورته شو:

درز دی دروز دی شور دی- جوړ پر دوښمن اور دی

قاري اتل ام پې ترې ور پورته کړه، ماشوم رېږدېدلی له موټر سايکل سره ولاړ و، له بلې خوا کم عمره طالب ور منډه کړه:

- د غله زو! په دا خوله کې دې جاغور در خالي کړم، پخپله به لارې ته راشې!

قاري اتل طالب پورې واهه:

- مه کوه، ړوند يې! واړه ماشوم ته لګيا يې ولا با امريکايی دې نیولی!

ماشوم ته يې مخ کړ:

- ام پې ترې دې ښه ايسې!

ماشوم واړه طالب ته وکتل، هغه برګ – برګ ورته کتل، وډنګيد روان شو، قاري اتل ته يې وکتل، رېږدېدلي يې وويل:

ـ ما ـ ما نه غوښته، هغې...

ـ مه ډارېږه! ووايه ام پې ترې دې څه کوله؟

ماشوم له جېبه لسګون راويوست، غنګيدلي يې وويل:

ـ زرمينې دغه راکړې، وايي د قاري له موټرسايکله که دې ام پې ترې راوړه بيا نورې هم درکوم!

اتل وخندل، بېرته يې خوشکه وکړه:

ـ منډه اخله! د زرمينې زو!

ماشوم لسګون جېب ته کړ، منډه يې کړه، قاري اتل پسې وکتل، مخامخ دروازه نيم کښه ولاړه وه، څوک ترې ښکارېدل، په موټر سايکل يې پښه واړوله، پر ملګرو يې غږ کړل، د ام پې ترې تکمه يې کېکاږله، غږ ورو ـ ورو لرې کېده:

د جهاد لمونځ ټول په قيام کېږي قعده نه لري

شور دی، اقدام دی او د کونج مراقبه نه لري

په دې لمانځه کې د خشوع پر ځای غرور خوند کوي

کار د تنديو ماتولو دی، سجده نه لري

خلک دې وايي چې نور بس دی او دا جنګ تر کومه

دا عبادت ګورئ اوقات مکروهه نه لري

...

××××

شرمېدلی یې دېوال ته ډډه ووهله، سیف ورته وویل:

- وخوره! ستړی شوی یې، برګیه مور دې هم در پسې دربدره کړو!

ده د مسکي کېدو هڅه وکړه:

- مور شوم.

بې پامه یې وویل:

- اوس به مې وژنئ؟

سیف وخندل، ورو یې وویل:

- والي صاحب ناست دی، داسې ګڼوډې مه وایه، که مو وژلی بیا مو په سر کې لا وژلې!

د ده پښو درد کاوه، پوهېده چې د تېښتې له دې ناکامې هڅې وروسته به یې خامخا د طالبانو مرمۍ سینه ور خیرې کړي، خو د طالبانو چلند نه

و بدل شوی، د طالبانو په ولایتي مشر کې یې سترګې خښې کړې، هغه له بل طالب سره غږېده، ده ورته کتل، ببر برېتونه یې ښورېدل، لونګۍ یې ګډوډه تړلې وه، د غوږو شاته یې تور اوږده وېښتان ښکارېدل، ساده کالي یې و، برګډال ته د دوی تواضع بې نمونې ښکارېده، د خونې ور خلاص شو، دوه تنه ور ننوتل، یوه یې د کمپیوټر بکس په غاړه کړی و، ټولو یو بل ته غېږې ورکړې، په خونه کې شور جوړ شو، نږدې و، چې د ده زړه ودربږي، برګډال پوهېده چې دوه راغلي کسان کم خلک نه دي، د هغوی سترګې په ده کې وې او خبرې یې کولې کله کله به یې سره وخندل.

له اوږده مجلس وروسته، یوه بکس خلاص کړ، کېمره او مایک یې ترې راویستل، تر دوی وړاندې والي سیف ته وغږېد، هغه برګډال ته یې مخ کړ:

- والي صاحب وایي چې ستا ملګري، کورنۍ او پوځي مشران درپسې خپه دي، دوی رسنیو کې اوازه ګډه کړې چې له تا سره طالبانو بد چلند کړی او ان د مرګ اوازې دي، مورږ درنه وڅو، ته له دوی سره خبرې وکړه، دا زمورږ ملګري دي فرهنګي برخه کې کار کوي، دوی به ستا ویډیو همداسې امانت په انټرنیټ خپره کړي.

د سیف له خبرو سره والي او ورسره څو کسان د باندې ووتل، په خونه کې برګډال، دوه خبریالان او سیف پاتې شو، د ده سترګې له اوښکو ډکې شوې، حیران و، د ده قواره به په هیلي کې د ده مور، د ده پلار، د

ده ملګري ويني، زړه يې و، چې نارې کړي، خو پام يې شو، چې پخپله قرارګاه کې نه؛ له طالبانو سره دی، طالبانو کيمره عياره کړه، مايک د ده مخې ته کېښود، برګډال کيمرې ته سترګې وويني:

- زما ګرانې مورې! ګران پلاره...

سيف پرې غږ کړل:

- نه، نه ته صبر، والي صاحب ويل چې بايد په پوځي جامه کې خبرې وکړي، په دې کالو کې به دې خپل مشر هم نه پېژني.

شېبه وروسته برګډال پخپلو پوځي جامو کې د کيمرې مخې ته ولاړ و:

- زما نوم بو برګډال دی، په امريکايي پوځ کې ډلګی مشر، د اوهاوي د هيلي اوسېدونکی يم، خپلې ګرانې مور او ګران پلار ته سلام وايم، د پوځ خپلو ټولو ملګرو ته سلام وايم، زه ښه يم، تاسې مې وينئ په دومره وخت کې نه زما صحت خراب شوی، نه ډنګر شوی يم او نه هم کله خپه شوی يم، خو زه په دې خپه يم او حتی شرمنده يم چې زه يو امريکايي يم، ښايي زما پوځي ملګري پر ما غوسه شي، خو زه رښتيا درته وايم، زه د طالبانو بندي يم، خو نه يې برقي شارټونه راکړي، نه يې وهلی يم، نه يې لوڅ کړی يم او نه يې سپيو ته لغړ په ميدان درولی يم.

زه مې د پوځ مشرانو ته وايم، چې تاسې له مورڼ سره تل دوکه کړې ده، تاسې به مورڼ ته ويل چې مورڼ له څو تنو سره جنګېږو چې هغوی هم يو

ټک را وکړي بیا یې درک نه وي، دا دی زه د دوی په منګولو کې یم، دوی لوی حکومت لري، که تاسې یې څو تنه بولئ نو ما پیدا کړئ ما در خلاص کړئ! تاسې په غلطه یاست، موږ ټول خپلو مشرانو غولولي یو، موږ پر افغانستان برید یوه لویه تېروتنه کړې!

زه...

کیمره مین اشاره وکړه، سیف پرې غږ کړل:

ـ بس مهمه دا وه چې ستا څېره دوی ووینې او دا ورته ثابته شي چې ژوندی یې!

ده نا هیلي وویل:

ـ زما زړه کې ډېرې خبرې دي، تر اوسه خو مې خپلې مور او پلار ته هیڅ هم ونه ویل!

ـ هغه بیا په یوه لیک کې ولیکه، نبغ به دې مور او پلار ته ورسېږي، د دې ویډیو همدومره امر شوی و.

د ده شک پیدا شو، لومړی ځل طالبان دوکه باز ورته ښکاره شول، زړه یې و، په لاس کې نیولې ماشینګنه په ناستو کسانو کې تشه کړي، خو ویې مسکل:

ـ نو خو سم وو ایاست چې وژنئ مې او دا مې وروستی وصیت و!

سیف وخندل:

ـ ته ولې ډارېږې! موږ د اسلام د حاکمیت لپاره جنګېږو او اسلام موږ ته دا نه وايي چې له اسیر سره بد چلند وکړ، ته صبر زه له دې ملګرو سره وځم، بېرته راځم بیا به ګپ کوو!

طالب د کمپیوټر بکس اوږې ته کړ، بل ملګري ته یې د ولاړېدو په حال کې وویل:

ـ ځو!

سیف تر دروازې ورسره ووت، برګډال په لاس کې نیولې ماشینګنې ته وکتل، زړه یې ټوپ وواهه، د خپل پوځ روحیه پکې پیاوړې شوه، زړه کې یې راجوړه کړه، چې سرای ته وځي، د طالبان والي وژني که بیا دی هم ووژل شي، پروا نه لري، بې پامه یې جاغور ترې خلاص کړ، ویې کتل، خالي و، په قهر یې له ځمکې سره وویشت:

ـ دا وحشیان هم دومره ځیرک دي!

## خبرونه

کوربه لوښي ور ټول کړل، تر ځان په کشر يې غږ کړل:

ـ خيرنه! چای په منډه راوړه!

بدر وخندل، حافظ ته ور په غوږ شو:

ـ تر ده خو دی خيرن دی!

د اتل پرې پام شول، کوربه يې ته مخ کړ:

ـ دی دې څه دی؟

ـ د تره زوی مې دی!

ـ نوم يې څه شی دی؟

ـ سميع الله

ـ نو پخپل نوم يې بوله، ماشوم دی، په بد نوم خپه کېږي.

ځوان دسترخوان يوې خواته کېښود، تر خولۍ راوتلي وېښتان يې بېرته په خولۍ کې کړل:

ـ ملا صاحب! خو خوشی خيرن دی، مخ نه مينځي، ادې يې هره ورځ جنجال ورسره که!

ـ پلار دې چېرې دی؟

ـ هغه تللی، غرمه یې ویل چې بېګاه ته طالبان راځي، ډوډۍ ورته تیاره کړئ!

سمیع الله چایجوش ته ګونډه ووهله، ټول ګیلاسونه یې په نوبت ډک کړل، پرلپسې یې خپله پوزه په لستوڼي پاکوله، هر تن ته یې ګیلاس مخې ته کېښود، پخپله ګوښې کېنوست، اتل پرې غږ کړل:

ـ ته چای نه څښې؟

ماشوم کوربه ځوان ته وکتل، د ماشوم پر ځای ده ځواب ورکړ:

ـ دی به یې بیا وڅښي!

قاري اتل، چایجوش ور کش کړ، تش ګیلاس یې ور ډک کړ، له قندانۍ یې چاکلیټ ور پورته کړ، ماشوم ته یې مخ کړ:

ـ دلته راشه! زما له څنګ سره چای وڅښه!

ماشوم په چاکلیټ کې سترګې وګنډلې، مړاوي یې د خپل تره زوی ته وکتل، هغه ټغر ګراوه، دی کرار ور ولاړ شو. اتل یې پر سر لاس ور کېښود:

ـ مکتب ته ځې؟

ـ هو.

ـ په څووم کې يې؟

ـ څلورم کې.

ـ افرين!

په خندا يې پسې زياته کړه:

ـ خو ګوره هغه فرهنګ او مدني معلوماتو سره کار ونه لرې!

ماشوم، د چاکليټ پاته برخه په خوله کړه:

ـ هغه خو اوس نه وايو، تاسې چې تاليمواسلام«تعليم الاسلام» راوړی اوس په ټولو صنفو کې هغه ويل کېږي.

ـ افرين، وښبه چای وښبه، بيا به درس راته وايې، چې تکړه يې کنه!

اتل شاوخوا سترګې وغړولې، ځوان ته يې وويل:

ـ راډيو نه لرئ!

ـ شته، د ابا په خونه کې ده، زه يې راوړم.

ځوان منډه واخيسته، اتل ملګرو ته مخ کړ:

ـ وابه يې ورو، چې دا کونجوړه خواره د ننني ماين وايي کنه!

حافظ وار ړومبی کړ:

- ولا خوند یې وکړ، هغه یو خو یې داسې پورته کړ لکه خالي درېشې چې وه، که میوند ویډیو سمه کړې وه، ډېر خوند به وکړي.

د خبرونو سرټکي پیل شول:

- امنیتي ځواکونو په چاېېزو عملیاتو کې قاري صلاح الدین د هغه له پنځلسو ملګرو سره وواژه!

- د کابل- کندهار په لویه لاره...

خبریال سرټکي ویل، په دوی کې یو دوه ورک شول، اتل په موبایل خپړه کړه، شمېره یې ډایل کړه، کمپنۍ ځواب ورکړ، دوی بې له دې چې د خبر تفصیل ته غوږ ونیسي، په تلیفون یې خواري کوله، راډیو چالانه وه:

- قاري صلاح الدین او د هغه پنځلس ملګري له امنیتي ځواکونو سره په مخامخ جګړه کې، ځای پر ځای ووژل شول، امنیتي مسوولین وایي چې د قاري صلاح الدین پنځه ملګري یې په ټپي حالت کې ژوندي نیولي دي...

بدر یو څه ارام وویل:

- چټیات وایي!

اتل وویل:

-نو دومره لوی دروغ؟ زما خو لا زړه ښوییږي.

حافظ ته یې وکتل:

-ته بام ته وخېژه، د مخابرې کوشش وکړه!

څه شېبه وروسته حافظ له بامه غږ وکړ، دوی دواوړو ورمنډې کړې، قاري صلاح الدین ته یې د راډیو د خبر ټوله کیسه وکړه، هغه خندل، قاري اتل خوله-خوله و، پرلپسې یې ویل: نو دومره دروغ!

## چاپه

بهرني او کورني عسکر د کلي په کوڅو کې په منډو و، د هرې دروازې خولې ته يو عسکر ولاړ و، جک د کلي په منځ کې د دريو ټانګونو خواته له ريټا سره يو ځای ولاړ و، د اوبو بوتل يې په لاس کې و، په مخامخ تنګه کوڅه کې يې سترګې ګنډلې وې، څه ځنډ وروسته ګډي ملا رسول خان تر څټ نيولی راکشاوه، ډله عسکر تر شا پسې روان و، جک ريټا په اوږه ټننډ وهله:

ـ منم دې، ډېر ښه نوم دې پرې ايښی، ډاګ! زبردست ښکار کوي!

هغې و خندل، د ملا رسول خان سر يې په پښو کې ولګيد، جک تر څټ ونيو، د ريټا له پښو يې راپورته کړ، ملا رسول خان رېږدېدلی پرلپسې لګيا و:

ـ خو حکومت ياست، محکمه به لرئ! يو مې سئ، پوښتنه رانه وکړئ، مجرم مې کړئ بيا سزا راکړئ!

جک يې خولې ته برګ ـ برګ کتل، په غاړه کې يې ول ـ ول لونګۍ ته پام شول، يو ول يې د ملا رسول خان په غاړه کې ور کلک کړ، ورو ـ ورو يې لونګۍ سره کشوله، د سړي ټوخی شروع شو، ګډي او عسکر يې له خندا په يو بل ړنګېدل، جک څو شېبې د هغه ستونی خپه کړه، ملا رسول خان

ړنګ شو، ګډي ته يې اشاره وکړه، هغه ملا رسول خان ټانګ ته ور واچاوه، جک ريتا ته مخ کړ:

تر څو هغه بل ډاک راځي، دده له خبرو په تنګېږو، خدايزده څه سره وايي!

هغې وويل:

-هغه دی راغی.

جاويد له وضعيته پوی شو، پيل يې وکړ:

-محترمه ښښنه غواړم، سرتېرو له خلکو سره ستونزه درلوه، بايد ورغلی وای!

-چټيات مه وايه، ته وګوره چې دا رزيل څه وايي؟

جاويد په حيرانۍ د ټانګ منځ ته ور وکتل، سپين ږيری په اړخ سره ور ټول پروت دی، له خولې يې ځګونه را وتلي، حيران شو، دروازه يې خلاصه کړه، سری يې وښوراوه:

-حاجي صاحب! حاجي صاحب!

غږ يې وا نه وريد، جک ته يې مخ کړ:

-دا خو ختم دی!

ـ ختم؟

ـ هو، کیسه یې خلاصه ده!

جک، ور منډه کړه، تندي ته یې ټک ورکړ:

ـ اوف پر دې رزیل مې لکه چې ډېر زور وکړ، دا باید نه وای وژل شوی، له ده مو هغه خلک معلومولی شوای، چې د ده په تقریرونو زموږ مقابلې ته راوتلي.

ماښام نږدې و، چې قوه له کلي وخوځیده، جک د کلي څنګ ته د ملا رسول خان جسد له ټانګه وغورځاوه، د پولیسو په رینجرو کې د هغو بندیانو چې سترګې خلاصې وې، د ملا رسول خان جسد ته وازې سترګې نیولې وې، ټولو ته خپل برخلیک همدا ښکارېده، خو دوی حیران و، چې د خړ ټانګ او خړې رینجرې تر منځ دومره توپیر ولې شته، چې هغوی یې دلته وژني او دوی یې له کلي باسي؟

## مسلمان

د ستېج مخ او شاته پر دېوال سپينې ټوټې چې طيبه کلمه پرې ليکل شوې وه، لګول شوې وې، شاوخوا دېوالونه پر سپينو ټوټو پوښل شوي و، ستېج په برنډه کې ايښی و، د بام پر سر څو ځوانان مسلح ګرځېدل، خلک په برنډې ته مخامخ په پراخ انګړ کې پر فرشونو ناست و، د ستېج دواړو څنګونو ته کتار څوکۍ ايښې وې، چې د مېلمنو او عالمانو تر څنګ پکې برګډال هم غلی ناست و، هغه نن بيا پوځي جامې اغوستې وې، خلک حيران و، ځينو انګېرل چې ښايي امريکايي عسکر به اوس اعدامېږي، خو چې د برګډال خوشاله څېرې ته به يې وکتل، پرېکړه به ورته سخت ښکارېده.

د ستېج پر سر هم پرلپسې شعرونه په ترنم کې ويل کېږي او ديني علما د اسلام عظمت او د اعمالو فضايل بيانوي، دوی په نړۍ کې د اسلام پر خپراوي تبصرې کوي او د کفر پر وړاندې د اسلامي لښکرو سربښندنې يادوي، خلکو ته دا خبرې تکراري ښکارېدې، خو انانسر د برګډال نوم واخيست، خلک حيران شول، هغه ستېج ته ودريد:

له څنګ سره يې يو ديني عالم ودريد:

- بسم الله الرحمن الرحيم

برګډال وويل:

- بسم الله الرحمن الرحيم

د خلکو خولې وازې پاتې شوې، ملا ويل برګدال پسې تکرارول:

- اشهد
- اشهد
- ان لا
- ان لا
- اله
- اله
- الاالله
- الا الله

برګدال ژړغونی شو، ملا لګيا و:

- و اشهد
- و اشهد
- ان

ـ ان

ـ محمدا

ـ محمدا

ـ رسول الله

ـ رسول الله

انګړ تکبیرونو پر سر واخیست، د ستېج په طرف منډې شوې، پر بام ولاړو ځوانانو پرلپسې ډزې کولې، خلکو د برګډال د ښکولولو او په غېږ کې نیولو هڅې کولې، هغه له ستېجه لرې، خلکو په غېږو کې ګرځاوه، انانسر پرلپسې نارې وهلې:

ـ نظم مه خرابوئ! هغه له تاسې ټولو سره ګوري، تاسې ټول به مبارکي ورکړئ، نظم مه خرابوئ!

برګډال د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ورک شو، مسلح طالبانو مداخله وکړه، خلک یې سر ټېل وهل، عسکر بېرته ستېج ته راغی، سترګې یې لمدې وې، سیف ورسره ودرید، هغه غږېده، ده ژباړلې:

ـ زه د خوښۍ اظهار نه شم کولی، زه ستاسې په وژلو پسې...

سلګیو واخیست، غونډه تکبیرونو پر سر واخیسته، برګډال لاس ښوراوه، سترګې یې پاکې کړې:

- زه داسې فکر کوم، چې اوس زېږېدلی یم، زه حیران دې ته یم، چې زه څومره وخت ان له خپل خالق نه یاغي وم، زه د خپل خدای له قانونه تښتېدلی وم، زه د خپل خدای د بنده ګانو پر وړاندې په جګړه بوخت وم، ما څومره مېرمنې، ماشومان....

سپیکر کې یو څو شېبې پرلپسې سلګۍاورېدل کېدې، د ستېج څنګ ته ناستو ملایانو سترګو ته خپل څادرونه نیولي و، په غونډه کې ارامه ارامې وه، لکه هیڅوک چې نه وي، سیف پرلپسې د برګډال پر اوږه لاس تېراوه، لکه دلاسه کوي چې یې، عسکر راسم شو:

- ما تاسې وژلئ، ما په تاسې پسې ټوپک په ماشه ګرځاوه، زه پوهېږم چې په اسلام سره زما ټولې ګناوې ښښل کېږي، خو وجدان به مې تل تر دې عذاب لاندې وي چې ولې مې دومره وخت په کفر کې تېر کړ، ولې مې دومره وخت په کیلومترو کیلومترو لرې، په دې خړو کلیو کې مېرمنې او ماشومان وژړول، ولې مې غوښتل د ځمکې له مخې د اسلام لارویان ورک کړم، ان ماشومان او مېرمنې ووژنم، زما اوس هم د ابراهیم کاریز هغه شپه یاده ده، چې مېرمنې مو د سپیو ښکار ته خوشي کړې وې، ماشومان مو په پښو کې رغړېدل، یاد مې دي، ښه مې یاد دي، یوه ښځه مې راونیوه، واړه ماشوم مې تر پښو لاسونه راوګرځول، لکه چې د

خپلې مور د خلاصون زارۍ يې راته کولې، ما يې په خوله کې ماشينګڼه ور ونيوه تر څټ يې د وينو داره ووته...

خبرې دپې شوې، ساړه اسويلي، د سپيکر کښيا ماته کړه:

ـ په موږ کې دا شعار و، چې ون فاير ټو کيلډ، مانا په يوه ډز دوه ووژنه، موږ ته به تل خپلو روحانيونو ويل، چې د ځمکې د ټولې کرې اصلي وارثين موږ يو، موږ بايد کوشش وکړو، چې په جګړو کې حامله دارې مسلمانې مېرمنې په نښه کړو، په يوه ډز به مو دوه تنه وژلي وي، دا د وحشت اوج دی، دا د انسانيت د جنازې په مانا دی، دا څومره لوی ظلم دی...

عسکر دسمال ستر ګو ته ونيو، د سټېج له سره يې ګيلاس ور پورته کړ، يو غوړپ اوبه يې تر ستونې تېرې کړې:

ـ زه پر دې وياړم چې ستاسې په منځ کې يم، زه دا د خپل خالق احسان بولم چې زه يې د طالبانو په لاس ورکړم، زنداني يې کړم او د دوی له برکته ما دومره ستره هستې پيدا کړه، موږ به طالبان د وحشت نمونې بللې، خو نن زه بيا وايم، چې زه شرمنده يم چې زه يو امريکايي يم، موږ ټول بنديان لغړ کړي، موږ ټول بنديان په سپيو داړلي، موږ ټول بنديان په واوره کې لوڅ څملولي، موږ...

عسکر پرلپسې سلګۍ ووهلې، د سیف په اوږه یې سر کېښود، هغه ورو ورته وویل:

ـ مه ژاړه وروره! ته خدای ښنلی یې، ستا ټولې ګناوې ښنل کېږي، خبرې وکړه!

پر ستېج یې لاسونه تکیه کړل:

ـ تاسې پوهېږئ! موږ د بندیانو د شکنجې لپاره ځانګړی کمیسیون لرو، چې هغوی د شکنجې په ډولونو ځبرنې کوي، دا ټولې باید پر بندیانو وازمویل شي، دا د وحشت وروستی حد دی! زه له دې ځایه پخپلو مشرانو غږ کوم، چې تاسې که د نړۍ د مشرۍ دعوه کوئ، غولیدلي یاست، پر دې اخلاقو د یوې ورې کورنۍ مشري نه شئ کولی، د نړۍ مشري باید داسې څوک وکړي چې په ټوله مانا د انسانیت نمونه وي.

زه تاسې ته ډاډه وایم، چې کله هم زموږ پوځي مشران زما له اسلامه خبر شي، تاسې به یې واورئ چې یا مې زنداني کړي، یامې چېرته ووژني وروسته به اوازه ګډه کړي چې هغه طالبانو ډېر شکنجه کړی و، ومړ؛ یا به سمدستې ووایي چې سړی لېونی شوی، دا زموږ تکتیک و، چې هر چا به زموږ په منځ کې له مسلمانانو سره مازې هم د خواخوږۍ اظهار وکړ، موږ به لېونی باله، دا ټاپه ډېره اسانه ده، خو زه ژمنه کوم، که د

خپل پوځ له لېوانو خلاص شم، ټولې نړۍ ته به اعلان کوم، چې موږ له مسلمانانو سره څومره ظلم کړی.

زه پر دې ویاړم چې اسلام زما او ستاسې تر منځ ټولې پولې ونړولې، مخکې سیف راته وویل، چې وروره! دا تر ټولو خوږه کلمه ده، اسلام خوږ دی، دومره خوږ چې ان دوښمنان سره پرې ورونه کېدلی شي، زه پر دې ویاړم چې د مجاهدینو په منځ کې په اسلام مشرف شوم، ځکه خو زه خپل نوم مجاهد ږدم!

پای.

۲۵-۹-۱۳۹۴